د خاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
چه دے خو خیبر کښې څه دی بے رخاورو

# دیوان خاطر



خورونکے: ناتره پښتو ادبی جرګه خیبر ایجنسی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ټول حقوق محفوظ دي

# ديوان خاطر

ترتيب او تدوين

دَ

مُفْتَدَرشاه مقتدر او فَضْلِ رَبِّي قيس

خورو نكے

تاتره پښتو ادبي جرګه خيبر ايجنسي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

16476


| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | دیوان خاطر |
| ترتیب او تدوین | مقدر شاه مقدر<br>او<br>فضل ربي قیس |
| کتابت | ترخوی |
| داشاعت نیټه اول ځل | مئی ۱۹۸۶ء |
| دویم ځل | جون ۱۹۸۷ء |
| شمیر | پنځه سوه (۵۰۰) |
| پریس | جواد پرنټنګ پریس پېښور |
| خورونکے | تاتره پښتو ادبي جرګه خیبر ایجنسي |
| بیه | ۲۵ روپۍ |

دموندلو درکې

۱- تاتره پښتو ادبي جرګه خیبر ایجنسي

۲- عظیم پبلشنګ هاوس خیبر بازار پېښور


Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# تړون

دَ خاطر له خاطره د خاطر
د ځوی



جاوید خان په
نوم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## یادګیرنه :-

تاسو ته دے معلومه وی چه مونږ د دیوان خاطر دویم ایډیشن تاسو ته وړاندے کوؤ. لو په دے ایډیشن کښے ترڅیله وسه مونږ هغه غلطی درستے کړیدی کومے چه د پروف په موقع زمونږ نه سهواً پاتے شوےوے اوور سره مو په دے ایډیشن کښے دیوے ضمیمے اضافه هم اوکړه چه پکښے د خاطر د هغه غزلو چه مونږ ته لا رپوره په لاس نه دی پیاغلی څیلے شعرونه شامل کړه

مقدرشاه مقدر
او
فضل ربی قیس

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# پیژندګلو

**خاطر افریدی** چه خپل لنوم ئې مصري خان وه د خیبر په تاریخي سیمه کښې په کال ۱۹۲۹ء کښې د اکبر خان په کور کښې سترګې وړلې دي چه قام زخه خیل تپه صدو خیل افریدی وه. په دغه تاریخي سیمه کښې ئې د ژوند شپې ورځې تیرې شویدي. ویلې شي دے لا ورکے وُو چه د مور او پلار سیورے ئې له سره کوز شو په دے وجه ده تعلیم حاصل نهٔ کړو او هم د غسې بے تعلیمه پاتې شو

دا خبره مسلمه ده چه الله تعالیٰ بعضے انسانانو ته داسے پوهه ړی وی چه خلق ورته حیران ګوته په خله پاتې کیږي. په دغه کښې د خیبر په سیمه کښې خاطر ته الله تعالیٰ د شاعرۍ ملکه ورکړے ګ... ده تعلیم نه وو کړے خو بیا هم د ده شاعرۍ کښې دومره خوند ... دے چه اوریدونکي په توجه مجبوروي. داځکه چه د ده په شاعرۍ کښې د روزمره محاورو ګړون دے ژبے ئې سوچه عوامي او د ... اودا د شعر صفت وی چه هغه دومره اسان او عوامي ژبه کښې چه اوریدونکي ئې سمدستي مقصد ته اورسیږي. لنو دا ټول صفتونه خاطر افریدي په اشعارو کښې موجود دي. لکه چه وائي ــ

چه د زړهٔ کور له دے راشي پرواه لنشته
اے خاطره خاطر تل د میلمنو شي

دَ دوی د شاعرۍ په حقله نیاغلی باجوړي دَ میناغلي مراد شینواري حواله دا خبره کړے ده چه په ۱۹۴۹ء کښې به دے زموږ سره پیښه ړګي کښې د باصرچا ځواله په دکان کښې کیناستو او دَ دغه ادبي محفل داثر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه متاثره شو او شاعري ئې شروع کړه .

نو دَ دے حوالے په دنړا کښے دا سے معلومیږي چه خاطر افریدي دشلو کالو په عمر کښے شاعري شروع کړیده کله چه ده شاعري شروع کړه نو په ده کښے د ښه شاعري کولو او ښه شاعر جوړیدلو صلاحیتونه موجود وو . د ده ادبي ملګرو دا خوښتل چه دے دِ یو ښه شاعر جوړ شي . نو په دے لړ کښے یو ادبي ملګري ښاغلي لعل زاده ناظر د دوي په اشعارو کښے دوي ته به د تصحیح مشورے ورکولے او ورسره ئې خواري کوله او دَ دے سره سره ئې ورته لیک لوست هم خورلو په دے غرض چه دے خپله ویناً په خپله لیکلے او لوستلے شي . لنو دغسے خاطر افریدي د ښاغلي لعل زاده ناظر نه لیک لوست زده کړے دے او په شاعري کښے ئې دا صلاح استفاده ترِ هم کړے ده .

دے غزل ګو شاعر په ځل ژوند کښے ډیر ے نو دے سر ے لید ے دي ولے چه دَ ده مالي حالت ښه نه وو او دَ دنیا ژوند بغیر د مال نه تیرول ډیر مشکل وي خو دوي کله هم ځل همت نه وو بائیللے د ځل بال بچ دَ روزے دپاره ئے په هر حالت کښے منډے ترړے وهلے او آن تر دے چه ورپورے نرے رنځ او نخښتو او دَ دے دنیا نه ئے دَ ارمانو نو ډک زړه په ١١ د جون ١٩٦٩ء کښے دَ خلوېښتو کالو په عمر کښے کور ته یوړو . او هم دغلته په خپله سیمه کښے خاورو ته او سپارلے شو . چه نن ئے مزار د حال په ژبه ګویا دے .

دے کښے شک نشته چه نن خو خاطر افریدي په دے دنیا کښے نشته خو د ځلے خوږے شاعري له برکته نن هم ژوندے دے . او سباله به هم وي . کله چرے د خاطر شاعري ته دَ موسیقي په نظر او کتے شي نو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په دغه ټول هم پوهه ده ځکه ئې هر سند رغاړے په شوق سره وائي.

که زه دَ دے خبرے د لته یاد نه کړم نو بے ځایه به نه وی ځکه چه ما او نباغلي فضل ربي قیس دَ دے دیوان په را جمع کولو کښے کوم تګ و دو او تکلیفونه برداشت کړی دی. لنډ هغه په دے موقعه د قلم سوکے ته ځکه نه شم سپارلے چه تپصره به را نه اوږده شي او که وخت راغے نو بیا به په دے موضوع مفصل لیکل اوکړم.

دَ دے دیوان مسوده مونږ د مختلفو مجلو، سند رغاړو نه راټوله کړیده کیدیشي چه په دے کښے کمے وی خو هر سړے په ځل وس پوره دے. زه د خاطر دَ عمر په لحاظ دومره ویلے شم چه دا دَ خاطر ټوله شاعري به وی. کرا لوستونکیو ته خواست دے که دے نه علاوه چا سره د خاطر مرحوم غزلے، لوبے یا څه نور شعرونه وی نو مونږ ته دے را اولیږی که ژوند وفا اوکړه نو په دویم ایډیشن کښے به ئے شامل کړو.

زه په آخر کښے دَ نباغلي جمال ناصر، نباغلي بیا ناز الدین، نباغلي نثار ذاکر، نباغلي نظر، نباغلي نظیر، نباغلي سرفراز نباغلي نادر خان او د نباغلي شیر شاه ترخوی چه وخت په وخت ئے زمونږ رهنمائي کړیده او دَ دے سره سره د تاترے پښتو ادبي جرګه دَ ټولو غړو دَ زړهٔ له تله مننه کوم چه دوی ما او فضل ربي قیس سره په دے دیوان کښے لاس کړے دے.

مقدر شاه مقدر

۱۱ر مارچ ۱۹۸۷ء

# منته

له ډیرے مودے نه دا خواهش وو چه د خاطر افریدي زمونږ دا خواره واره اشعار راټول کړو او دیو کتاب په شکل کښې ئے قوم ته وړاندے کړو، ما او مقدر شاه مقدر په دے ځو خوورځے خبره اترے اوکړه چه دا کار به څنګه سرته اورسوو خو آخر مو په خداے توکل اوکړو او د خاطر له خاطره مو د اشعارو د راټولو تکل شروع کړو. په خپله سیمه کښے که چا ته غزل یاد وو که دوه شعرونه یاد وو که یو شعر یاد وو خو چه څه په ګوتو راتلل هغه به مو لیکل او د ځان سره به مو جمع کول ځنے چه د خاطر کوم غزلے، نظمونه وغیره په مجلو کښے چاپ وو نو هغه مو د هغے نه را نقل کړل. حتیٰ چه چا به را ته څوک خورلو نزمونږ به هغه پسے تللو کله کامیاب او کله ناکام به راغلو خو همت مو نه دے بائیللے. د غسے دے زمونږ نه درے کاله واخستل. خو دے غزل ګو خوږلت شاعر دا غزلے، لوبے، نظمونه، ټپے مو په ډیر کوشش کړاؤ او زړه چاؤد دن راجمع کړیدی چه ستاسو په مخکښے دی.

خو په دے ادبی کار کښے چه مونږ سره کومو ملګرو مرسته کړے ده نو که د لته د هغوی ذکر اونه کړم نو بے انصافی به وی. نو په دے غرض زه د عالمګیر صدوخیل، جمال ناصر، ذاکر، اخمر، سائل، اوتر، ذلاور مالیار او د وارث عاجز ډیر ډیر تشکر کوم

او په تیره تیره د ښاغلی پیر یعقوب شاه پولیټیکل ایجنټ خیبر ایجنسی ډیره ډیره مننه کوم چه د دے کتاب په چاپ کښے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ئې زموږ له هره قسمه امداد کړېدې . او ور سره ور سره د ښاغلی
شیرشاه ترخوی هم ډیر تشکر کوم چه موږ سره ئې د دې کتاب
په دغونډه کښې پوره پوره لاس کړېدې . او د تاترې پښتو ادبي جرګې
د ټولو غړو او هغه صاحبانو چه چا موږ ته د خاطر اشعار راکړیدی
د زړه له تله مننه کوم.

فضل ربي قیس افریدی
لوی سیکرتر تاتره پښتو ادبي جرګه خیبر ایجنسی
۱۵ مارچ ۱۹۸۷ ء

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# خاطر افریدے

یو محفل کښې ناست ووم د خاطر مرحوم ذکر راغے زما یو دوست شیخ ولایت ئې اشعار اولوستل. خاطر سره زه د ډیر وخت نه عقیدت لرم. زما زړه کښې فوراً خیال پیدا شو چه د خاطر اشعار دِ د کتاب په شکل کښې ولے چاپ نه شی ورستنی سوچ دا خبره لوره هم سرگنده کړه چه خاطر دو معنے لری یو زړهٔ. بل لحاظ خاطر د خیبر د سیمے یو ډیر فلسفی شاعر وو سره د دے حقیقته چه خاطر د پولیټیکل د باغ مالیار هم وو خو مرحوم خاطر له ئې نه څه خاطر اوکړے شو او نه ئې خاطر په خیال کښې راوست د خاطر ټول سرمایه ضائع پرته وه سمدستی ما ته خیال راغلو چه د خاطر سوی زړهٔ نه تکلور ورکولو د پاره به دا ښه وی چه اشعار ئې د کتاب په شکل کښې شائع شی او د پولیټیکل ایجنټ د پاره نه صرف لازم دی بلکه آسان هم دی دا به د مرحوم خاطر خاطر نه وی بلکه د علاقے او سیمے هم ډیر خدمت دے —

ادیبانو شاعرانو د پاره هم ډیره دلجوی ده لهذا تا تره پښتو ادبی جرگے خیبر ایجنسی" په وساطت ما وینا اوکړه چه هر څومره مصرف کیږی زه به ورته غاړه کیږدم اُس ما محنت د تاترے پښتو ادبی جرگے خیبر ایجنسی جنرل سیکټری فضل ربی فیس سره د مسودے حاضر دے او د چاپ کولو اجازت ورکوم زه د دے ځلمو ډیر مشکور یم چه په دے لړ کښې چه د کم خدمت ضرورت دو هغه دوی په ښه ډول سرته اورسولو آخر کښې دعا کوم چه الله دے لوے خدائے رحیم د رحمان جنت کښې ځائے ورکړی آمین

(پیر یعقوب شاه)

پولیټیکل ایجنټ خیبر ایجنسی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ځواني مړګ خاطر

مصري خان خاطر په اول کښې لو ستے نه وو دڅپل اُستاد لعل زاده ناظر شنواري نه ئے لیک لوست زده کړل. شاعري ئے په وینه کښې راوړے وه خو د ناظر اصلاح پکښې ډیر بلے کړے زمانه ئے هم خو ځو کرته اصلاح اخستے وه او مونږ سره به مشاعرو ته تلو. اکثر به خیبر افریدي چیړلو. د رنګ او دړے نه بیخي شاعر نه معلومیدو خو چه کلپل غزل به ئے وئیل شروع کړل نو اوریدونکي به پوه شول چه رنګیني لګیا ده بهیږي. مونږ به اکثر د مشاعرے نه پس في البدیه مشاعره کوله او هغه به مزاحیه مشاعره وه یوه د طرحے مصرعه به مو ورکړه او د لیکلو د پاره صرف ینمه ګنټه یاد دے نه هم کم وخت او بیا به مزاحیه مشاعره شروع شوه. خاطر او خیبر به په د مشاعره کښې په یو بل ګذارونه کول او فضا به د خلقو د خندا نه ډکه شوه.

کوم وخت چه خاطر د دِق مرض په مخه کړو نو ما سره ئے ډیر تشویش ملګرے شو. خو خوځل مے ورته د مکمل علاج کولو هدایت وکړو خو خاطر نیک بخت هیڅ و دا منله نه چه هغه بیمار دے. یو ځل ئے زما په بار بار اصرار علاج هم شروع کړو خو بیا ئے بند کړو او آخر د دق مرض ئے د ژوندن ډیوه مړه کړه.

د خاطر په یاد کښې چه د هغه په کلي کښې کومه مشاعره شوے وه په هغے کښې ما یو څو غلور بځے وړاندے کړے وے. چه هغه دا دي؟

چه خاطر پر د همه دوستانو ګران وو ❊ پریشانه کښې چه د ګل غوندې خندان وو
خوږ خاطر ئے چه خالي وو د ترخو نه ❊ ځکه اسم مسمیٰ وو مصري خان وو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# دولس

دځوانئ سپرلے ئے تیر لکه خزان شو
چه بلا درنګورې پرے میلمنه شوه
د قدرت ستم نه ګوره چه مرګ راغے
هغه وخت چه دَغزل شونډه ئے شنه شوه

• • • •

چه لذت ئے د مصرئ وو په وینا کښے
دَ اجل تراخه ئے اوڅښکل خاطر لاړه
انګازے به ئے د شعر تل ژوندے وی
تللے نه وی د دنیا نه که شاعر لاړه

• • • •

حمزه شنواری
۱۴ر مارچ ۱۹۸۶ء

## دخاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
## په دے خر خیبر کښے څه دی بے دخاطرو

شاعری دخدائے پاک یوه داسے پیرزونه ده چه الناس ته په نورو انسانانو دمشاهدے او تخیل فضیلت ورېخښی حسن هر څوک وینی ذړونه دَ مسائیلو سره هر بنیادم مخامخ کیږی یخیل چاپیر چل کښے هر څوک ورځے اوشپے سباکوی ولے دَ دے هر څه دَ مشاهدے قوت نه خو هر څوک لری او نه ئے متخیله درے جوکه وی چه هغه په دے هر څه تنقیدی نظر واچوی اوخپل فکر درے سره مربوط کړے شی دموازنے او مقابلے قوت هم الله تعالیٰ دشاعر په ذهن کښے اچولے وی او هم دغه سبب دے چه دَ شعر هر مضمون دشاعر د فکری صلاحیتونو ترجمان وی. دا لکه چه اوئیلے شول یو وهلی کمال دے درجه لری هم دَ فن دَ لحاظ اوهم دمقبولیت.

خاطر چه نوم ئے مصری خان دے دَ خیبر درے هغه لومړے شاعر دے چه الله تعالیٰ ورله دَ فکر دَ مینکلا دَ ژبے د ساده ګۍ او دَ تخیل داوچتوالی داسے خوبیانے ورکړی دی چه دَ ډیر دکمو پښتنو شاعرانو نصیب شوی دی خاطر په خیبر کښے زیږیدلے دے او خیبر د اوچو کاڼړو او شاړو غرونو دره ده دَ دے درے په تاریخی اهمیت کښے خو هیڅ شک نشته ولے دلته هغه روپ پروره منظرونه او دل اویز مرغزارونه او ګلزارونه نشته چه دَ شاعر زړه راکاږی یا دفطرت حُسن ترجمانی اوکړی خو بیا هم خیبر دَ ژوند دَ هغه موادو سره تل اشنا پاتے شوے دے چه دکوم له مخه دشاعر دفکر دَ دنیا تحریک مومی او دهغه تخلیقی قوتونه بیداریږی خاطر په دغه خیبر کښے ژوند تیر کړے دے دهغه دشعر تول له تنه بوده هم دغے ماحول جوړه کړے ده

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## څورلس

په دې دَ ژوند حوادث د معاش فکرونه د کور غمونه او افلاس هغه مضوعات دي چه د خاطر د ژوند ټول افسانه ترې سازه ده او د هغه د خوږ او درد یډلي زړهٔ د رباب تارونه ئې ټنګولي دي یقیناً چه د هغه دَ شاعرۍ اصل بنیاد عشق دے او د دغه عشق هم د دے حوادثو او مجبورو ښکار شویدے وے بیا هم د ده په کلام کښې ئې د هغه خوندونه او رنګینۍ پیدا کړې دي چه دَ بل کم پښتون شاعر په کلام کښې ډیرے کمې پیدا کیږي هسې خو د خاطر هر غزل زړهٔ راښکونکے او هر شعر ئې لکه د پښتو د ټپے غوندے دَ زړهٔ تل ته کوزیږي او د زړهٔ په کور کښې ځائے مومي وے دَ هغه څینې اشعار دومره مقبول شویدي چه هر څوک ئې خوښوي هم - (د که دا اُوایم چه هر چا ته یاد دي نو بے ځایه به نه وي پښتو غزل د خاطر نه مخکښې هم وبځلے شویدے .. دَ متقدمینو، متاخرینو دَ غزلو نه ډک پوره پوره دیوانونه موجود دي په دے موجوده دور کښې چه د روان او ساده غزل کم روایت چه خاطر قائم کړیدے هم د هغه دَ غزل د مخه چه په موسیقۍ کښې دے ته څومره مقبولیت حاصل شویدے دا د پښتو ادب په جدید تاریخ کښې دَ خاطر د مقبولیت سرګند ثبوت دے هر یو موسیقار او سندرغاړے دا فخر ګڼي چه دَ خاطر غزل اووائي او داوریدونکو نه پرداد واخلي د هغه د اشعرو نه به چا نه وي اوریدلي.

بنه شوله ډیره چه انکار دِ اوکړو
زما دَ واړه عمر کار دِ اوکړو

خلق چه مخ نه ولې کوري ورته
تا چه مخ پټ کړو نو ګذار دِ اوکړو

یادا چه.

خاطره یار دے په خیبر کښې اوسي      ټوله دره دَ سپینو ډکه شه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خیبر دے که زما سترګے وے بندے شی

ته خو را ته ګوره په دا ښو سترګو

خاطر په یوه داسے سیمه کښے ژوند تیر کړے دے چه که غور ئے بے آب وګیاه دی وے د دولت څه کمے پکښے نشته بیا هم د خاطر په برخه د غریبی او افلاس د غمونو نه لور هیڅ نه وو هغه ټول ژوند په محنت مشقت او خوارے تیر کړے دے او کله چه د نړۍ نه ځ د لاسه په کټ پریوتو نو نه خو داسے څوک وو چه د دے عظیم شاعر علاج ذمه ئے اخستے وے او نه د خاطر ورو شاعری د هغه څه پکار راغله.

خاطر د خیبر فخر دے، خیبر د هغه په نوم ویاړی د هرے سیمے پښتانه په خیبر د خاطر د وجه رشک کوی هغوی داوائی چه اے کاش چه خاطر زمونږ په سیمه زیږیدلے وے او دا فخر مونږ ته حاصل وے چه کنی دا لوموړے شاعر زمونږ د سیمے وے ولے زه به دا اوایم چه خاطر د ټولے پښتونخواه دے د هغه کلام د هر چا دے او ټول پښتانه د هغه د کلام سره مینه کوی ځکه چه خاطر د عشق ترجمان دے او د مینے خوږونکے دے هغه په خپل ژوند کښے هم دغه مرام لرلے وو او د دے د پاره ئے د هرے قربانے تلقین کړے دے هغه د عشق د انا قیمت قائل دے او هم په دے ئے پوخ یقین دے چه د عشق منزل سرکول د انسان د هرے قربانے تقاضا کوی او هم دغه تقاضا سرکول یو د صداقت ګواهی ده. ے

که دے غم په ما انبار وی پروا نشته

د ګلو لولو لاندے ځانګه نه ماتیږی

د خاطر په کلام کښے نادرے استعارے ښکلی تشبیهات او د روزمره محاورو خوندونه او سادګی چه په کمه فنی اُستاذے ځائے شوی دی هغه هم د خاطر د کلام سره جوړیږی نکه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# شپارس

درېغه چه داستاد انګوخوله هم زه وے
پرېخے نه چه کورم ککلو نو په سر ونو

ستړګے به زما شی آخر غوټے په ژړا کښے
کړځی چه کشتۍ د طوفانونو په سر وتو

---

زه د ے کړم اشنا د شوګیر و سره
ورې مے خوب نه سنا اودو ستړګو

زه یم چه د ژړه په ستړګو ناویم
چارتړا لیدلے په ړندو ستړګو

دخاطر د کلام شوخے د پرکار او بے ساختګے نمونے د هغه په هر غزل کښے جوتے ښیدے کیږی ولے ځینی شعرونه ئے داسے دی چه جواب نه لری لکه

ډیرو ثیبو له راشه چه د یو بل نه خبر شو
یا نه په یوه شپه د ډیرو شپو خیرے لشی

زه د خیبر د ځلمو ټیکوالو د دے جذبے قدر کوم چه هغوی د خاطر مرحوم کلام راجمع کړو او د هغے د اشاعت تابیائے او کړه که څه هم د خاطر د کلام یوه ټیکړے شان مجموعه د دے نه اګاهو په افغانستان کښے چاپ شوید ه وے بیا هم ضروری وه چه د لته پاکستان کښے دِ د هغه ټول کلام راغونډ او مرتب کړے شی او په مناسب جوړله دے چاپ کړے شی کیدے شی چه د خاطر د اکیله من روح د خیبر د ښیے نه ځخلا شی. که څه هم هغه داوائی چه.

ته که ضد لرے خو زه پښتو لرم
اوس د ر سره څنګه زه ښخلا شمه!

# اوه‌لس

په آخر کښې زه د فضل ربي قيس او د مقدر شاه مقتدر او د تا تره پښتو ادبي جرګې خيبر ايجنسۍ منته کوم چه هغوی ما ته دا موقع را کړه چه زه دهم د پښتنو مير مينو د خواږه خاطر مرحوم ته څه پيرزوينې وړاندې کړم.

منته

سلمی شاهين

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# دخاطر په حقله

کله چه ادب د ژوند ترجمان بللے شي نو د ژوند د روایاتو په رنګین تخلیق کښے د ادیب او شاعر زیاته برخه کنټرول هم ضروري شي، وائي چه ادب د عام اولس د عامي ژوند عکاسي دی او د اعکاسي نقاشي هم د دے عام اولس د سترګو د رویا په دوتي کښے احساسه کسانو هغه بنګلی اثار روی کوم چه دوی هم د هغے چاپیر چل نه مستعار کړی وی. په کوم کښے چه دوی ژوند تیره وی په عامه توګه شعر یو داسے فن ګنړے شي چه په لږو ټکو کښے په بنګلی رنګ خو ډیر څه بیان کړے شي او اوریدونکے او وائي چه دا خو زما د زړه خبره ده هر څوک د هغے نه آګاه هو هغے هغه ویلے شي نه دا سے د زړه خبره یا د چاپیر چل منظر کشي شاعر کسي کولے شي چه د هغه په ماحول ژور، نظر وی او حساس مزاج وی. د دے اوګړ تمهید نه پس زه اصل هدف ته راګرځم د چا کلام چه ستاسو په وړاندے په کتابي شکل موجود دے. سرګنده ده چه بنا لسته د کابل بوستان د نه وی او عطر هم هغه چه بخپله خوشبوئی ورکړی نه چه عطر فروش ئے او ستائی هم دا خبره د خاطر اروانیاد د کلام په حقله کیدے شي زمونږ په دعوی یا تعریفونو هیڅ اثر زیاتولے کولے نشي خو نیک مرغی دا ده چه د نورو برخلاف د خاطر کلام په کتابي شکل کښے راتلو نه وړاندے اولس ځو ځو ځله اوریدلے دے. د نورو کسانو کلام نه په کتابي شکل کښے راتلو نه پس د خلقو په وړاندے شي چه اکثر هغه اثر او تاثیر پرے نه دی د کوم چه توقع کیدے شي. بهر حال دا ډیره د خوشحالي خبره ده چه زمونږ یو ستره مدعا ترسره شوه د کوم چه د ډیر وخت نه هیله کولے شوه. خو د دے سهره د مقدر شاه مقدر او فضل ربي قیس په سر ده چه د دے کوم کار ته ئے ملا او تړله او ترسره ئے کړو. چه نن زمونږ په مخکښے دے.

(میراکبر خیبروال)

---

زه او خاطر د یوے سیمے یو سره نزدے یو. وایم چه لږ څه پرے ولیکم. د

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# لوئس

خاطر افریدی سره ما ناسته پاسته د ډیر وخت نه وه هغه راته اکثر دا ویل چه چه مړ به شم خود خپل غربت له کبله به را یاد نه څوک وته ژاړي او نه به پس د مرګه مې څوک یاد کړي. خوشکرده چه هغه یادشی او د هغه شعرونه د ټاټره پښتو ادبي جرګې له اړخه په کتابي شکل کښې را ته څخکښې پراته دي. زه د د عجرګې ډیره ډیره مننه کوم چه دا کار ئې ترسره کړو

(کوهاټ خان ذاکر افریدی)
۱۵-۳-۱۹۸۷

د شاعر شخصیت په ګوته کول څه اسان کار نه دے ځکه چه د شاعر خیالات او احساسات د لو بهیدونکی سیند په مثال وی چه په دې کښې کله موجونه او کله هیبت ناکه خاموشی کله زړه رانیونکے موسیقی او کله پکښې د غم نه ډکې چپې د مختلفو جذباتو مجموعه وی. لو په دے وجه د اپیژندل ګران کار دے

د خاطر افریدی په حقله که زه هر څه ولیکم لوکم به وی خو چه په کومو الفاظو کښې خاطر شاعری کړے ده د ستائنے وړ ده که یو طرف ته ئې په شاعری کښې سادګی ده نو بل طرف ته ئې د سادګۍ سره شاعری مقصدی هم ده. لکه

په دې دنیا کښې هسې شپې سیروم
لکه میلمه یو څو غرمے سیروم

(فلک نیاز تیراه وال)

زه د شعر په لاره نوے نوے روان وم په دغه ورځو کښې مې کله کله د خاطر لوړ ادب ذوق ته کسانو نه اوریدل وخو لیدلے مے نه وو. داد ۱۹۶۰ء خبره ده چه د پېښور د ... وادۀ و او زه په هغه کښې حاضر وم د دغه وادۀ په خوشحالئ کښې د ټنګ ټکور په غرض مجلس باغ حرم راغلے ووښتے شوے وو چه ده په به مخصوص انداز کښې د خاطر غزلے ویلے. بندے یاد شی چه دا غزل ئې ویلو —

ستا منزل منزل لو کښې یم ÷ رسیدو د اومیدونو کښې یم.

چه ما ته ئې ډیر خوند راکړے وو او دا تلوسه مې پیدا شوه چه دا شاعر به زه څنګه ووینم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# شل

ما ته او وے چه خاطر هغه دے ناست دے چه تر ے نه مے او لیدو نو هغه رشملے غلے په کټ کښې ناست وو د هغه دے غزل او خاموشۍ زه نور هم متاثره کړم او د غه ئے زما د شعر او شاعرۍ سره نور هم ذوق راپیدا کړو په دغه وخت مے د کرے نه او لیدو. خو بیا مے ورستو ډیر د نزدے نه لیدل کتل او شو چه ډیر مینه ناک او ښکلے خوئے لرلو. که زه دلته دا اعتراف او کړم چه ما د خاطر د شاعرۍ نه د هغه د شعر د خوږ لت په وجه استفاده کړے ده نو بے ځایه به نه وی. زه په آخر کښې د تاتره پښتو ادبی جرگے ډیره ډیره مننه کوم چه دوی د خاطر کتاب چاپ کړو او د غه ئے د هغه خوږ شعرونه د ورکیدو نه محفوظ کړه

یار رحیم سائل افریدی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

يولښت

# يو څو خبرې

دمصرى خان خاطر افريدى په حقله څو ناسود ډير و ښاغليو ادبى ملګرو رائے اولوستے خوزه ذدے ديوان ذ مرتب کو ښکو ښاغلى مقدر شاه مقدّر او فضل ربى تيّس په باب له دومره عرض کوم چه دے لوخطو ځلمو په پښتو ادب مېښو کـه يو طرف نه ذ ځلے خوږ ے سيمے ذيو خوږ لت غزل ګو شاعر خوارد واره شعر و نه راټول کړل او کتابى شکل ئے ورکړو نو بل طرف نه ئے ذ پښتو ادبى پنګے ته هم وده ورکړه چه پکښے ئے ذيو ديوان اضافه وکړه او خاطر افريدى ئے دکهول عمر ذ پاره ژوندے کړو چه دصفت ور کار نامه د ترڅو چه دا دنيا اباده وى نوخاطر به ذدے ديوان په برکت يادوى.

ترکومه حده چه ذخاطر ذ ديوان دمرتب کولو تعلق دے نودا يو دومره ګران کار دے چه ذدے دمرتب کونکو نه په راټولولو کښے کلونه اخستے دى خو ددى خپل همت نه دے بائيللے که په دے لاره کښے ورته هر څومره خنډ اوخاررا غلى دے نو دوى همت په ډير حوصلے سره هوار کړيدى او ښلے ځمے ئے جارى ساتلے دى. او دا دے ستاسو په مخکښے ئے دخاطر ديوان کيښود که ذدے ځلمو شاعرانو و ديبانو حوصله افزائى اوشى نو کيدلے شى چه دوى د پښتو په دے ډګر کښے نور هم ډير د صفت ور کارونه ترسره کړى. زه دوى ته ددے ګران کار سرته درسول د زړه ذتله مبارکى ورکوم او دلوے الله تعالىٰ نه دعا کوم چه خدائے پاک دے دوى ذ پښتو ادب د پنګے زياتولو په لړ کښے لوړے درجے او ډير عمر ورکړى آمين.

(شير شاه ترخوى)
ترخه علاقه دوآبه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بسم الله الرحمن الرحیم

# نعت

کاڼړی بوټی دی دیار د محمدؐ
ماښلی په دیدار د محمدؐ

ګرځنګو نه به ئې لاړے شی په مجلس
که چا وینوله لار د محمدؐ

د دنیا واړه ګلونه به ئې هېر شی
که چا ولیدو ګلزار د محمدؐ

چه د دِ دنیا ژړا او خندا نه دے
زه وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادولو ئې وصال ګنړه خاطرهؔ
په قرار دی بے قرار د محمدؐ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زړۀ مې کوي هر وخت درد ونه اشنا
ټک خوږې واوره فریاد و ته اشنا

نن خو به تا ارم ستا په مینه کښې زه
ګوره د اوښکو سیلونه اشنا

اُس دِ د غم ځله صبر لې نه شم
ما ورې په عشق کښې ډیر خونرونه اشنا

نن په جبین کښې دِ ځالونه څوری
دی په چشمانو ګردونه اشنا

که ستا په خیال کښې دې اجل نه قریب
د خاطر شته دې ارمانونه اشنا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

چه اشنا ئے ستمګر شی نو به څۀ کا
چه زخمی ځوک په ځیګر شی نو به څۀ کا

چه ټول عمر ئے تیر کړے په پالنګ وی
څه چه زمکه ئے بستر شی نو به څۀ کا

چه ټول عمر کښې ئے غم لیدلے نه وی
چه د غم سره ئے سر شی نو به څۀ کا

انتظار چه د وصال په کومه شپه کړو
د بیلتون چه پرِ سحر شی نو به څۀ کا

که دیدن د یار مونده شے په ړیږ هنر شی
چه غماز د چا رهبر شی نو به څۀ کا

زه خاطر خو همیشه د غښې وا بم
چه اشنا ئے مرور شی نو به څۀ کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي



○

چه عاشق د معشوقې په لور کاتۀ کا
خوربينه شي کم طاقته پرېواتۀ کا

چه پلوڅ د مخه لرې کړي رڼا شي
لکه ستر که د صبا چه رااخاتۀ کا

لړ عکس د زړۀ واخله که ډِشک وي
چه دا نور بانړه دڅه رنګه وېشتۀ کا

په مېين زړه ځنګن نشي چه يار راشي
په هيبت زړۀ په ګوګل کښې الواتۀ کا

د خاطر په زړګي داغ د بيلتون ګوره
چه د يار په لور کا نه ه وا نه کاته کا

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

خبر نن که در ته ما وکتل تا را وکتل
خوګوږم به دِ بیا که دِ سبا را وکتل

هم د غیسے ګلو نه وو چه مینه جوړیده
څه وشو پسرلے دے که اشنا را وکتل

دنیا را ته راکوری د کتو نه او ستم
چه تا ته مے کتلی دی هر چا را وکتل

په مخ زیا منډے را غلے مخ دِ څله پټوؤ
کړو غم دِ را ته جوړ چه دِ په شا را وکتل

دستی مے وخندل هم دا مے وو ارمان
تا چه اے رقیبه په خندا را وکتل

یو دم مے زړه نرے شولو همزولو مه خاندے
خاطر چه غریبو نیولی په ژړا را وکتل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خوشحالي ستا شوه زه ځکه نه اخلم
د ستا غمونه واړه زه اخلم

تا مې چه زړه وړو ګواه هم نه لرم
اوس به د ستا نه څنګه زړه اخلم

اول سپرغۍ دم ستا د مينې د اور
اُس پيمان پوهوشوم چه لمبه اخلم

په وړاندِ ځم په ورستو ګورم اشنا
زه تند موته چه واړه اخلم

همره کړ درنه په خاطر دی د غم
په اسويلو کښې چه سيالۀ اخلم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

دا خلمَ تا اوکه د دنیا واخلم
په خندا خندا دنګه زړه واخلم

ګلې دِیور ته کړه د مخ نه زلفې
ګله سودا چه په رنړا اواخلم

ته چه په سترګو کښې مُسکې شې ګلُې
زه دِ دَ دې مينې بلا واخلم

تا نه چه ګورم په دوو زړونو کښې شم
يو قدم مخکښې بل په شا واخلم

مړګک او بيلتون دواړه جوړه راغلي
خاطره دا واخلم که دا واخلم

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دستا د حُسن تماشې واخستم
لکه لوګي په سر لمبې واخستم

لاس خو ئې رانهٔ کړو چه مخ پټوي
ګوري يارانے د غم ټپې واخستم

دا د ته سوال کړم چه سوال نشم کړے
واے خَله نهٔ چه ستا اسرے واخستم

سباے بيا په زولنو کښې ګوره
نن ئے چه فکر د کوځے واخستم

سم دِ د مخ په صبا پوهه نهٔ شومه
که دے د زلفو تورے شپے واخستم

کوډ ژوندون راته يو پور ښکاره شو
چه تصور دا ديرے واخستم

بس يا د دم دِ نورے مه تنګوه
چرته ے حيرنه شے غصے واخستم

خاطره ته او دا دنيا دِ پوهه شه
زه بس د عشق يو ے قصے واخستم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

اووایه شم تا نه قربان څه وکړم
نور که دې دپاسه په ځان څه وکړم

ته خو په زلفو کو نسې جوړې کړې
زه په دا شلېدلې ګرېوان څه وکړم

نه خو چا ته نهٔ ورکړې خوزه راغلم
نو یم ستا په دربنې مېلمان څه وکړم

زه به نور څه نه کړم بس دې سوال کوم
نور خو زما نشته دې توان څه وکړم

ستا په طمع ځان له پاتې شوې یم
تول خو را ته لاړل یاران څه وکړم

پوهه دې چه په ځان کړم اوس ې نهٔ پرېږدې
بیا به دا سې نهٔ کړم سلطان څه وکړم

چا په دغم ډک زوند دت اخښې ووا
بس خو چه پېښ اشوم انسان څه وکړم

اوس خوزه خاطر په څه پوهېږم نه
تا چه کړمه دا سې حیران څه وکړم

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زه لکه د موم پشان د یدار ته اوبه کیږم
پریبږده چه اوبه شم ستا رخسار ته اوبه کیږم

چرته شي خوږونه شپې پرستورې محفل جوړ کړي
دهم د اے مشعلا شي ستا سینګار ته اوبه کیږم

زه پرِ سینه پوهیږم ستا لیدل زما اجل دے
بیا ے هم وار نه شي ستا یو وار ته اوبه کیږم

اوس ے خاطره وړے خدای په زړه کې مړه مړه سینه
بیا چه لیسے له مرګه ستا مزار ته اوبه کیږم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اشناکه تاته په کتو پوهه شوم
نو بس په ټولو تماشو پوهه شوم

بس خو معلومه شوه چه نه را درو ځې
ستا د دروغو په وعدو پوهه شوم

یا د ساقي د مېو خوند تښتنه دے
یا زه ایله اُس په نشه پوهه شوم

سوے په غم د خاطر زړه وی د اسے
زه دِ دوږخ په سرو لمبو پوهه شوم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

قسمته دا سے دِ اودهٔ کړم چه بیدار نه شوم
بغیر له تا ستا د غمو لړونه وزګار نه شوم

په دے دنیا کښے بغیر ستا له ژونده څه ژوندون دے
لوېږم غورځېږم خو یو ځل پکښے خمار نه شوم

ستا په الفت کښے هغه خوب چه مے لیدلے اشنا
د رقیبانو د جرګو ځنے وېزار نه شوم

نه چه راکوړے زه به هغه وخت په طمع ومه
یو ځل هم مورد ستا له خُلے په بنه ګفتار نه شوم

هغه وعده چه تا په سترګو کښے وه ماته کړے
دا زه خاطر دِ د وعدے په انتظار نه شوم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سپرلبه زه دِ پا خچو ښکنے نه یم
عادت په دا سے تماشو ښکنے نه یم

که راکوے نو سم شراب راکوه
زه دے ساقی جیسے اوبو کښے نه یم

اے خدایه بس دا خپل ورځ وایه
دوا سے زړ ند په تیریا دښتے نه یم

دستا بانړه دستارخسار په خاطر
بے دښا ونو په ازغو کښے نه یم

ته ما خاطر نه هسے ست خو زرکړه
چه خفه نه شے په ددنلو کښے نه یم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ته به ګرځې هسې ښکلې زه به مړیم
چې دې اوس ولې لیدلې زه به مړیم

جنازه مې چې د کوره ګور ته درومي
ته به نه وې راوتلې زه به مړیم

خدای دې یاره په مزار مې چې را درومې
لړ شه ما ته خپه نیولې زه به مړیم

زه به مړ شمه قرار مې مرګي ورکړ شه
سره خاندې به تول کلي زه به مړیم

وچې ځړې به په ما وي را زرغون شي
دي مزار به مې مخلې زه به مړیم

اې اشنا چې دې وطن له نه را درومې
خو خیبر خوږ لیدلې زه به مړیم

خړې خاورې به په ما باندې انباروي
هر سړي به درد مې غلې زه به مړیم

د کاکل په خټه بند دی کتاب کړه
ما خاطر په خدای سپارلې زه به مړیم

یاره ستا مینې په اور سیزلې یم
روغ به نه شمه په زړهٔ دا غلې یم

خورم قسم چه تر ځنې پورې ژوندی یم
ډیر ړزه په ګلشن دیدن ساتلې یم

همیشه سر په زنګون په غم کښې ناست یم
یاره تا کله خوشحال لیدلی یم

خوار خاطر وائي چه دا کومه ګناه ده
چه د دَر دے بے نوا شوے یم

لکه ګلئ چه په ازغو کښې وینم
داسې زړهٔ ستا په ینړو کښې وینم

رخسار دِ وینم تورو زلفو کښې ستا
لکه رڼرا چه په تیرو کښې وینم

ګلفامه څوکه لرے اوسے لـــه ما
زه دِ دنم په پلوشو کښې وینم

دستالیدل تیرشوے خوب وواشنا
بیا یه دا خوب په کوموشپو کښې وینم

رے دَ سبا سترګے را خیژه په ورو
تلهٔ داشنا دِ په خنـــو کښې وینم

زما خاطرَ خاطر دِ اور کښې اوسوو
اوس ئے لوګی پاءاسویلو کښې وینم

پہ دِ دنیا کښې هسې شپې تیروم
لکه میلمه یو څو ورځې تیروم

پہ ماز هیر مه شې خو ځ ښکاره کړه
پہ زړهٔ د ستا د ځ ښې تیروم

خوشحالی تہ کوه چه غم نه لرې
زه بیوزلے یم چه تنګسې تیروم

دا زه خاطر ستا د خاطر دَ یاره
پہ پل خاطر د غم شپې تیروم

○

سناپه الفت کښې به هوښيار نه شم
ځو چه دعقل نه اوزګار نه شم
سورے دعشق په بيونتوب نه شي
ځو چه رسوا دِ پاء يار ښار نه شم
يار بے وفا دِ مانه هله واخلي
چه ترِ د سراو ماله زار نه شم
ځو چه په تور رخارو موړ نه شم
موړ به دِ هُمره په ديدار نه شم
که دَ منصور غونډِ په دار شم اشنا
دستاله عشق به توبه ګار نه شم

خاطَره دا سے ګزار عشق را کړو
چه بل ګزار ته به بيدار نه شم

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

ستا د منزل په مزلونو کښې یم
د رسید د په اسیدنو کښې یم

نه مې دنیا نه مې عقبا لګیږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې یم

د ستا رخسار به مې هیر نه شي اشنا
که د بهار په سرو ګلونو کښې یم

زما په زړه کښې خو هم ته ئې اشنا
دا زه خاطر که د چا زړونو کښې یم

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ګوره چه رنګ مے سوے سکور نه يم
طاقت مے نشته ستا له زور نه يم

راځه دسترګونه مے مه يريږه
سرے په ژړا دی څه ميخور نه يم

دے اسويلو ته مے نۀ نه ګورے څه
سوے په اور يم سوے لور نه يم

ستم کوه ته منعه کړے چا ـــ ئے!
زه لا خاطر مړے دګور نه يم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

باغ د مینې دے د خیال پکښې غنچې کړم
ستا د مخ په تصوّر کښې تماشې کړم

بل به نهٔ دی یاره ستا غونډې کښې حُسن
خلهٔ اور د خپله لاسه ورِ پسې کړم

ستا د مخ کتاب د زړهٔ په سترګو ګورم
په ځان تیرے بشے او ئیدے راځورے کړم

زهٔ خاطر خو یاره ستا د مخ کتاب ته
بے ښتانه په خیبر کښې ورځې شپې کړم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ښکلی مخ ته دِ دموم پشان ادبهٔ یم
لکه کاڼے هسے کلک ور ته په زړهٔ یم

چه په کومه لاره لاړشی زه ئے مل یم
لکه گرد ئے هسے خور په هریو پلهٔ یم

زه په کومو سترګو ځان نه بیمار وایم
چه دستا نوم اخستے شمه لو بنهٔ یم

ستا لیدل لکه دَ خوب لیدل دی یاره
په دے خوب پسے لا هسے اودهٔ یم

لږ د ځان سره په زړهٔ کښے فکر وکړه
زه خاطر دِ چرے یو ځلے په زړهٔ یم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

نور په زړه ے نه ځائیږی چه څه وایم
رانه بیا سروربیږی چه څه وایم

که څه نه وایمه هم راپور ے لږی
په دِهم رانه قهر بیږی چه څه وایم

دهرچا په لوری ځمه دا سے وخت د ے
بیا ے وخت کله ستیریږی چه څه وایم

که خبره نه وی مانه خیرد ے خیرد ے
بیا چل حُسن ته خبریږی چه څه وایم

ډېره بنه په تا پوهیږمه ځنا طره
خو بس ستر کے ے شرمیږی چه څه وایم

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

ژوندی کله نه مارۀ دی بے دخاورو
نه ماړه دی نه ساړۀ دی بے دخاورو

چا چه خاورے ځان کړے په ژوندون دے
هغه پرته کښے اردۀ دی بے دخاورو

دا انسان سره چه غم مل شو نو کلک شو
دیوال کړے بے اربۀ دی بے دخاورو

دخاطر رنگین غزل نه حبیرا نیږم
په دے خبر خیبر کښے څۀ دی بے دخاورو

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بیا دِ سهی نه کړم په هغو سترګو
بیا ځلے هم هغسے په مړو سترګو

خبر دِ کـه زما سترګے دِ سـبـدے شی
نه نور را ته ګوره په دا ښو سترګو

زه دِ کړم اشنا د شوګیرو سره
دړی مے خوبونه ستا او دو سترګو

تا ته که زړے دی ما ته نوے دی
ته نور را ته ګوره په زړو سترګو

زه یم چه د زړهَ په سترګو تا وینم
پار ښړا لیدلے په ړندو سترګو

څومره تږینه درېږے دی حیران یمه
سترګے د خاطر ستا د سرو سترګو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځانونه مې په سوزېدو تېر کړو
چې مې پرون په موسېدو تېر کړو

زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړه مې له تېرو مرحلو تېر کړو

دسوځي مه کړه تپوس هسې دا مه
زړګي مې عمر په لمبو تېر کړو

زما دا تېر ژوندون زما خونه وو
تول مې دستا په تلوارنو تېر کړو

دلربا ستا د تورو زلفو نه کړم
په ځلمرګۍ راباندې دوه تېر کړو

لکه د شمع بېګا ستا په طمع
تول انتظار مې په سلګو تېر کړو

زه چې سپرلي ته درځم نه يمه
ما د دیدن په رنګینو تېر کړو

ژوندانه دعشق لورې ژړا ګډه ری
سو مې له دايره ګي رنګ تېر کړو

اشنا د ستا د ښکلي مخ په خاطر
ما خپل احاطو په سرو ... تېر کړو

○

ځیګرې شو کباب په لیمو اور د لګیدو
په ما دِ یار تنها که په ضرر لور و لګیدو

چه لرې د رنز دِ شوم د وصال په تمنا
دستا د ګنګرو کانو په ما شور و ناپیدو

ځیګرې تش کو ګل دې راشه وکړه تماشه
دسو ګر یاد د نو تنګ تنهایي و لګیدو

ذره کیه اسید لنډ کړه پس له د نور د رساله
بیا تون دِ ګوالي مرګ شي ارس ئې ذرر د اثاب

سپین مخ دِ رابنکاره کړه د نقابه لاندې نمر
او ریل دِ پردا برد غو نه خور د ناپیدو

څه خاطره خدائے ځای ردید دکړې دیار
چه بیا د غمازانو دا سې ذرر و ناپیدو

اشنا دې دا لوګي دي د خاطر د اسویاو
رقیب دې ما ځیګر شو چه تنور و ناپیدو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ښه شوله پېره چه انکار دې وکړو
زما د زاړه عمر کار دې وکړو

خلق چې د نخښنه ولې کوري ورته
تا چه مخ پټ کړو ننوتنار دې وکړو

د زړهٔ زخمونه مې بیا هله شماره
که زر دې څپلې خندا شمار دې وکړو

زه لا څه نه وایم چه داغ مې په زړه
ته لا خندې چه دیدار دې وکړو

خاطره زه له تا نه چا وړې ته
وار به دې را شي خو که وار دې وکړو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

خور به زه ژړيږم مه په سرو سترګو
تيرو نمه ستا په نيو نو سترګو

مه توره ده توره بلا سترګې دے
يام چه در ته نه شي د سپيرو سترګو

عمر له ئې کاروي د ژړا سره
او چې ګورے چا ته په معمو سترګو

بس که دَ خاطر سره يخلا شے ته
خلق به ير عزت کړي د زړو سترګو ۰

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نور به څه یوسي زما په تورو سترګو
زړهٔ دِ وړي لاړنوا په تورو سترګو

که پروا کړمه خوزه به نه پروا کړم
نور دِ څه کوي پروا په تورو سترګو

ډیرې سترګې دي د سترګو په هر لورشي
کړم دِ داسې وار خطا په تورو سترګو

کړي مې سترګې ستا د سترګو قدر دومره
ورته ځې نهٔ کړم د دنیا په تورو سترګو

زهٔ خاطر دِ دَ کجلو سلاڼې وې
بنکلوې دِ اشنا په تورو سترګو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یاد شو مه د عشق د ګړنګونو په سرونو
پریوتم د لړے وطنونو په سرونو
دریغه چه د ستا د اننګو خوله هم زه وے
پرې ته چاګورم د ګلونو په سرونو
سترګے به زما شی اخرغړے په ژړا کښے
ګرځی چه کشتۍ د ګردابونو په سرونو
مات په ما نظر کا چه سپین سترګی حق حیران شی
دود مے کړه د خپلو محلونو په سرونو
هسے هم ایرے یمه د باد سره الوځم
سکور مے خله نیسے د زخمونو په سرونو
ځان به خاورے نه کړم غم د یاره که څو پیر شے
خاورے دِ پرتے وی د تیغونو په سرونو

ښکلی به سرټیټ کړی یاره ستا په تصور کښے
هیر خاطره ستا د غزلونو په سرونو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یو عشق وو نوے نوے په خوږو نه مړیدو
څه نوے تماشه وه په کتو نه مړیدو

زه زیږوم د اوله او دا سروه د حیا ننه
سور اور وو لګیدلے په لمبو نه مړیدو

چه لاړو د دنیا نه په کتو کښې سره وړک شو
چه بیا راغلو دنیا ته په لیدو نه مړیدو

خاطر په زړهٔ بیماریم لږ پوښتنې له مے راشه
چه ځمکښې به د یو بل په راتللو نه مړیدو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

څوېه سره پټ دوارو په زړه ذره ذره يو
که دا د خوښه نه ده چه هرچا ته ښکاره يو

يو د غه بيلتون دے چه عزت مو پکښې ډېر دے
څو به پکښې وايو چه مدام د در سره يو

ته زما په سوے شمع زه ستا په انتظار کښے
هر کله چه وی لوګړه به دواړه په يو شپه يو

زه به کله واورم که دنيا په بله واوړی
ګرځی د نور خلق مونږ پخپله تماشه يو

راشه مروره چه مے شک له خاطره وځی
وايو به رښتيا چه دا په څه سره خفه يو

○

شوق مے ستا د ببړو پیغورونو سره لاړلو
زور مے شو ادبه د ستمونو سره لاړلو

خوښ مے ائنګی شول د بڼړوا زغی مے هیر شول
زړه رانه بلبل شو د ګلونو سره لاړلو

ببړے مے کړے تیښکے خوا خوږے ار ښکے لاړے
تا وُ د محبت دا ارمانونو سره لاړلو

سترګے مے بیوے ستا د مینے په کاروان کښے
لاړلو نظرے د ګردونو سره لاړلو

زه نو بینه لوګے شم چه به څه سوے نزراشی
زړه رانه د یار د دیدنونو سره لاړلو

چرته دا سے یار شته نکه زه په انتظار کښے یم
ستورے د صبا هم د فکرونو سره لاړلو

چرته به زما لیونے زړه پر مشغولیږی
ستا د تورو زلفو زنځیرونو سره لاړلو

څو به دے ممار د عشق بیوے وی خاطره
ژوند در ځنے هسے د وختونو سره لاړلو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ما د وصال په شپه کښے لږوله شپه سحر لیدلو
حال مے د ځان لکه مجنون هسے ابتر لیدلو

دریغه چه شپه وے د وصال خو تر قسمته پورے
زه به دیدن نه محرومیدم چه مے دلبر لیدلو

بیا د سحر غنو لو هله لیونے کړمه زه
د ما بنام سرے د نمرے اوچت دغره په سر لیدلو

زه ئے لا هیځ په سرو لبانو باندې نه یمه پوے
لا په آسمان مے چه د نمر په ځائے قمر لیدلو

په تصور کښے د ځان سره کول فکر د سنه
چه هغه شپه چه به غماز جوړے محشر لیدلو

چه مے را یاد کړل هغه تیر د جدائے وختونه
دغمه ډک مے تر هغے پورے اختر لیدلو

خاطره بس کړه د وصال طمع ئے بد اشوه دیار
والی ریبار چه مے جانان دِ مرور لیدلو

دستا د خُلې چه فيصله ماته شوه
نوره د زړهٔ مې حوصله ماته شوه

شونډې دې هسې رپيږي نهٔ وې
په زړهٔ د بله څه راتله ماته شوه

نورې ساقي څه جرم نه دې کړې
تنشه د لاسه مې پيالهٔ ماته شوه

که په عوض کښې ئې هر څهٔ غواړې ته
را مې په برخه رسيدهٔ ماته شوه

لاس مې به واکه چه جامونو نه څي
ما بنام خونهٔ دې چه روژهٔ ماته شوه

خاطره پرېږده د درغو ستو سبې
نوره زما او ستا ناغهٔ ماته شوه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خواږهٔ تراځهٔ شو د خوږو هسې نامه پاتې ده
د بدو شپې دی او د ښو هسې نامه پاتې ده

ته رانه هېر ئې خدایه هرڅه په دولت کومه
د دُعاګانو د ښېرو هسې نامه پاتې ده

په سترګو ژاړو او په زړو کښې سره خاندو واشنا
مه کړهٔ ګیلې دَ ژړېدو هسې نامه پاتې ده

په ډېره مینه کښې چه زه او ته پرِ نه پوهېدو
د هغو ورځو او د شپو هسې نامه پاتې ده

چه په پلوُ کښې ئې په زړونو باندې اورلګوُ
دستا د هغو اننګو هسې نامه پاتې ده

سبا به وائې چه دَ خدائے په خاطر راشه لږه
په ما خاطر کښې د ژړونو هسې نامه پاتې ده

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ما په شوګیر تا په خوبو تیره کړه
شپه ے سپوږمۍ ته په کیلو تیره کړه

بیګاه را نغلې شئ دویه اشنا!
ما تهوله شپه په وریدو تیره کړه

مینه د ستا زما نور زړهٔ سوزوی
هسې لمبه دِ په ایرو تیره کړه

دا ما خاطر ستا د خاطره آشنا!
د هجر شپه ے په سلګو تیره کړه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زند به پخیر راغلے د اشنا خبرے کړه
پریږن ده لورے لوړے پس هم دا خبرے کړه

څوبه پکے سترگے زه د اوښکو گرځوم
ملقا مه راشه راشه دغه بیا خبرے کړه

لورے دا غمزے د جفا خبرے پریږن ده
کله کله یارے د وفا خبرے کړه

سودے کله کیږی د ساقی په پیمانو
دتوے میخانے او د مینا خبرے کړه

نم ے شو د سترگو سپین د اوښکو په سیلاب کښے
بس زر شه راته وایه د ختا خبرے کړه

بخود نهٔ یم تپوس راځنے مه کوه د دهر
اشنا ما لیونی ته د صحرا خبرے کړه

خاطره چه و نه کړے د بل چا د غم سودا
دیاد د تور و زلفو سودا خبرے کړه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

ما په مثال لکه پتنګ د ګــڼړه
نه دے د شمع غونډې ننګ وګـــڼړه

کـه مے کوثر شو لو نصیب د دیدن
بیا مے شهید د عشق په ننګ وګـــڼړه

زمکه بستر وی لیو نو ته مدام
زړګیه نه ئے هم پالنګ وګـــڼړه

لکه چه څومره ستا غمونه دی پیر
پرانه مے ټول په زړګی زنګ وګڼړه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا د یدن په ځان قلنګ ، وګـڼړه

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

نه چه رقیب نه اشارے کړي داد مل نخښنه ده
نه چه داغلي غلي کورے داد غل نخښنه ده

کله یقین کړه په دا چه مرور ئے له ما
ما ته معلومه سنا په سترګو کښے د چل نخښنه ده

نه چه تیوس را نه مدام کوے چه څه لګنوے
زه چه دالاس په سینه ږدم دا ے ادل نخښنه ده

خاطره تا چه بیګاه خوب کښے د هجران لیدے
یقین ے راوبه اخری ستا د اجل نخښنه ده

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

نور زهر په خوږو کښې د افسون مه راکوه
دا بس دے اشنا نور دا زړهٔ چوندون مه راکوه

ته تل کړه ستمونه خو بخپله اے اشنا
سزا د رقیبانو په لسون مه راکوه

چه خو وکړے وعدے نو همره لا شے بے عملے
دا دِ وی درپاتے خو زبوت مه راکوه

که زه چرے په خود وے نو به تا شیدا کیدم
په سترګو ما له دار بیا د جنون مه راکوه

هر څو که زه خاطره د اشنا اجل ته شوم
د کور مبارکی خو په ژوندون مه راکوه

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

لږ د نقاب لرې کیدل زده کړه
زما په لوري سم کتل زده کړه

په چارخندا به رقیبان پوهېږي
پټ په پېمو کښې موسېدل زده کړه

اې زړه چه سم دا وارې د نه پېږې
لکه تنړا که ترکیدل زده کړه

ته ما خاطرته نصیحت مه کوه
ناصحه ما ته پوهېدل زده کړه

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بیګا ستا په انتظار مې هسې ستړې تهوله شپهٔ کړه
خندل را پورې ستورو چه سپوږمۍ راته ګیلهٔ کړه

ور ته سر په زنګانه وم د وصال تمې مته غلې
ما به کله کله سینه کړه چه بیلتون راته قصهٔ کړه

شو په مناره نظر ستړې چه هر ستوری به جلبه کړو
چه د سنا په لور به تللو هغه ستوری په مزهٔ کړه

ور سره به ئې زړه وچوی کهٔ شپه دچوی د خاطر نه
په ژړا ژړا اودهٔ شو آ وعده ئې ستا پوره کړه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خبر نه وم دے ثواب او دے عذاب ته
خو تصویر وم ستا په وروځو کښے محراب ته
ما وے تل به خوشحالی وی ستا په عشق کښے
اوس مے نه پریږدی غمونه اشنا خواب ته
ستا د سرو شونډو ارمان خو هله راشی
کله کله چه نظر وکړم ګلاب ته
یو ذره ئے لرے نه کړلو د مخ نه
فکر لیوړم دا اشنا د مخ کتاب ته
نور یادونه مے په یاد کښے راته هیر شول
یو دوه نه راځی چه کینم حساب ته

وائی زړه به هم زما داسے تک تور وی
چه خاطر او کړم نظر سوی کباب ته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

۴۶

زه به حیران د دنیا سترګو ته
ګوره کټے نه شي دچا سترګو ته

ستا د ښکلا بو سترګو بلا واخلمه
مخ دِ کړسه سترګو بالا سترګو ته

ستا چه خندنو سترګو ته ګورمه
راے شي له واره ژړا سترګو ته

را شه اهو چشمه لیونے شومه
سترګے مے صحرا دی دستا سترګو ته

دا خو دِ پخپله اشنا کړی دی
څله مے زورل کړے اشنا سترګو ته

ستا خندا برېښنا وه د ملک غومبلِ
بیا را نخله هغه د نړا سترګو ته

تا جو پارا دے درا تلو کړی دی
ښکاری مے د نګینه فضا سترګو ته

نن خو مے خاطره ستا خاطر وکړه
بیا به نهٔ راګورے سبا سترګو ته

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

یا دشرابو نه نشے او باسه
یا خو تو بے زما دځلے او باسه

یا مے د ذرهٔ رازونه مه لټوه
یا دِ صحرا نه قافلے او باسه

څه لنډه تنګه دنیا کښے شوه رته
زړے د ژوندا ورځے شپے او باسه

د اشنا یاده نورے مه تنګوه
د دغه سرائے نه قافلے او باسه

او ورد خاطر د زړهٔ په خونه شو بل
سترګے د سترګو نه ئے مړے او باسه

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه په لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا ارمان دِ لرم
که ځې خو ما سره د ځان یوسه

چه دِ د حُسن چمن تېرے نه شی
راشه دا وښکو ے باران یوسه

ته چه مُسکئ شوے زمانه ږدۀ نه هنګیله
دا د غمونو ډک جهان یوسه

خوبه زر راشه دا شناسره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

ګُک د خاطر کره شمع د وبه خاطر
بهار دِ راولـه خزان یوسه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ستا د سپینه مخه زار زما زړه کئے شه
هم د ستا نه سپلنے او بیا لوګے شه

ستا په ژبه بانده هره ژبه خونډ کا
اے اشنایا اپریډې یا پښورے شه

زه او نه د چا ژړا او خندا څه کړو
زما او ښکے دِ باران نه پسرلے شته

اوس د ګل څنګے نه لرے شه رقیبه
یا په خپله بانډِ ګل شه یا ازغے شه

زه خاطر دِ نور خاطر کوے نه شم
اے رقیبه که پوهیږے نو سړے شه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه کلۍ د مسيدو ډکه شه
بانړه راښخ کړه دازغو ډکه شه

چه ستا خورو زلفو ته نيغه نشوه
زما ګل د زولنو ډکه شه

که ئې هر څو درسره ضد نيولے
خو زما مينے د پښتو ډکه شه

چه ئې ژوندون له رنګينو ته ډک شي
بيا په غصه کښے دلښو ډکه شه

بس پښيمانی د زړهٔ نه وباسه نن!
يريږه مه داشارو ډکه شه

چه تا ئے هم کړيوان ته خيرے اوے
هم ستا کوڅه ئې د ټوټو ډکه شه

بنه دِ زړهٔ تش کړه چه بيا بيا نه ولګئ
فضا زما داسويلو ډکه شه

بدخواه چه لاس په سينه کيږدی ورته
د خيبر څانګے د ازغو ډکه شه

خاطره يار دِ په خيبر کښے اوسی
تېرو له دره د سپيلنو ډکه شه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څومره چه ژړيږم په ځوانئ پسې زيړيږمه
خدايه زده نه پوهيږم چه ساده شوم که پوهيږمه

زما اوسنانه تنږ د غسې کله چرته شوی
دوسره بنګه پوهيږم چه قدم اخلم ورريږمه

زه به خوشحاله ستا په غم کښې خفه نه شم
خدايه مې پخلا نه کړه چه له تا نه مروريږمه

ځکه ما خاطر درته داوې چه ما هير کړه
پريږده چه بې واره په هر ځائې کښې درياديږمه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شکر چه زه هم ستا د خیرے شومه
اوس دِ چه زه ښکلیه د کوځے شومه

زه به په ځان څه وکړم چه راشے نه
واړه دِ په طمع کښے ذرے شومه

دومره در نژدے یم که څو لرے یم
لرے به شم لور که در نژدے شومه

نن خو دے خاطر چه سبا نه وائے
پوهه دے زه د مکر په وعدے شومه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

بیا به سره ګورو اوس ځوانی ده درومه درومه
څوک کړی دوسره غم خو دیوانی ده درومه درومه

اوس ته ایله را غلے چه لبس وخت دځنکن نشو
بیا رانه ګرانیږی اسانی ده درومه درومه

وے ځچه بازارے د بنا لُست دے ګرم شوے
هر شے په کښے خنلے دے ګرانی ده درومه درومه

زړه او ته خاطره لوړیه خله سره خوازه یو
مینه خو هم د ایښیمانی ده درومه درومه

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

کله چه په فکر کښې د ستا شمه
لا پښمه د ځانه خو بیا را شمه
نه که لرې ضد زه خو پښتو لرم
اُس در سره څه رنګه یځلا شمه
خیال او تصور نه به سره وکړم
زه که د ځل زړهٔ په تماشا شمه
تا وې شي د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کړې چه ستا د زلفو په سودا شمه
نورې د ِ د مینې لارې سمې کړه
خدائې خبر چه کوم پلو ُ خطا شمه
عشقه دا سې ځائې لره دِ راو ستم
اُس به نه د ستا نه د دنیا شمه
ن دِ دېرون وه د راتلو وعده
ن څنګه په طمع د سبا شمه
ډیر ځې غرِیب نیولی راکتلی دی
ګکه به خاطر نه په خندا شمه

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دلارے خاوره شوم دلبنیو ځنے وتلے یمه
اشنا دستا پسے د ستلو ځنے وتلے یمه

د اشنا مخه لنور ے سوے ژړوے منه شے
زه خود اور او د اوبو ځنے وتلے یمه

په ښه خیره په دِ زه لږ ډیر نیاز یمه اشنا
زړه مے اوس پوهه دے د خیرو ځنے وتلے یمه

تا خو په لنور را ته خندلے وے چه دا څه وشو
که په ژړا دِ د کوڅو ځنے وتلے یمه

•

دغه دا غو نه مے دی لبس دومره خاطرے اوشو
لنور د کرلو د ګلو ځنے وتلے یمه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

ترخو نه ے زړه کینږی کله کله
په خوږو سرے مړ کیږی کله کله

د دردمند ولنظر هغوله پکار دے
چه دلاسه دِ بنه کیږی کله کله

چه اشنا د چانه ورک شی موندے نشی
پسے ځان هسے ورکینږی کله کله

ښکاری یار مرور ئنه دے اے خاطره
په بیمو کښے چه مسینږی کله کله

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځ

نو به خنګه تیرېدې په هوښيار باندې وختونه
ناپوهو هسې تیر کړل په قرار باندې وختونه
هېڅ ې هم سخیان خود سباغموته نهٔ کا
د شوما لو نه تیرېدې په خروار باندې وختونه
دا تیر وختونه پرېږده دانکار سره چه تیر شو
ته راشه نور دِ سم کړه په اقرار باندې وختونه
ته دې هسې کرم چه څوک په غم کښې دروند بکاري
په هرچا باندِ تیرشي په څل وار باندې وختونه
ګوره دهغو په زړو کښې نوره سودا نه وي
تیر چه شي د بنګلیو په بازار باندې وختونه
لکه باد هسې تیرېدې وخت په روغ او په بیمار
ودرېدې نه ودرېدې په بیمار باندې وختونه
دمخ دِ تصوّر کړم ځکه مخ مې دا سې تور دې
خبر نه يې کړل تیر مې په انکار باندې وختونه
ما خنګه به لټون کړې دد نیا دغم نه خلاص یم
خاطر ما ښکلې تیر کړل په څل یار باندې وختونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

ستا د ښکلي مخ شمع چه مړه شوله
جوړه په محفل کښې توره شپه شوله

راشه لګه واوره د اُلفت قصّه !
بس دِ نورِه ذره کښې زړهٔ شوله

ډېر وعدې ښې وی الله لنډې وی
اُس دِ هر لوکال راته وعده شوله

تاچه د خاطر خاطر ونه کړلو
ښه شوه ډيره ښه شوه اشنا ښه شوله

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

د هجران په شپه ړیوه په لاس کښې راغله
خدائے خبر چه چرته تله په لاس کښې راغله

رقیبان خو دِ اوس کهول راله راتیر شی
چه یار راغے نو دسله په لاس کښې راغله

چه مے صبر امید دواړه پسے خور کړل
چه د ځان نه خبریده په لاس کښې راغله

چه د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصورئے بیو څیره په لاس کښې راغله

چه په تلوکښے شوه مسکئ نو بیا به را شی
اے خاطره بس راځه په لاس کښې راغله

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ته خوایه زه به څۀ کړم زړګیه لیونیه
څه به کړم اوښه به نۀ کړم زړګیه لیونیه

تا خو دے آبادي پرېښے ده ماخو پرېښوه دلته څه دی
په صحرا چه ګرځېدۀ کړم زړګیه لیونیه

چه اشناکړي ستړګے پورته بانړه شا په لوړ را درومی
زه ئے کوم طرف کابۀ کړم زړګیه لیونیه

زه خاطر ورته حیران یم چه په څۀ باندې راونخ شوی
چه په څه دِ اوس اود ۀ کوم زړګیه لیونیه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

لوے دریاب د مینے نهٔ شی په واړهٔ زړهٔ
شومه یاره بیا د ستا غونډِ په نهٔ زړهٔ

چه په خُله کوی یوه او په زړهٔ بله
دهغه سره به مینه کړے په څهٔ زړهٔ

سوی رنګ ته مے لږ وګوره دلبره
مابنیولے ستا دحُسن په لمبهٔ زړهٔ

میکا ستا په انتظار کښے شمع رُو یه
د هر ستوری سره پورته مے خاتهٔ زړهٔ

بیائے خوب واړه تهو پوته او هیت شی
دهجران چغے چه وشی په اودهٔ زړهٔ

یوغم نه دے چه ئے وکړے اسے خاطره
ډیر غمونه دی کوه ئے په ساړهٔ زړهٔ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ستا چه خورې زلفې کو نسې را تاوُ شي
زما د زړه ځنې رسې را تاوُ شي

په خره پړه لوپټه کښې تاوُ شه
لکه ویرانه بړبوکې را تاوُ شي

نه به مې بیا کړې لیونې د غرو لنو
نه به د ستا سنړکې هوسې را تاوُ شي

په زړلیو ړې خو یه وانه درم له تا
نه به خاطر ستا د ځوانۍ را تاوُ شي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زما زړه او د ستا سترګے سره پیړی
نور به بد کا چه په دِ مخ بګنے ځائیږی

خیر که نه راکوے خیر دے خیرے مه کړه
میئن زړهٔ مے ستاد مینے نه صبریږی

که دِ غم په انبار روی پروا نشته
د ګلو نو لاندِ ځانګه نه ماتیږی

چه مے ورتځه اشنا وائی خفه شوے
زړهٔ مے بنه شی په ګوګل کښے نه ځائیږی

زه خاطر دا سے هیبت ستا په راتلو کړم
لکه پاڼړه چه په ونه بګنے رپیږی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نور به ایله څه دلیونو نه پاتې کیږي
ګوره ټې یو ګرد چه ټې د خپو نه پاتې کیږي

زړه مې چه اشنا دستا د قتلو نه پاتې کیږي
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کیږي

ینځې مې د زړه د لسن اور ییژ بید مې لاړې
غم دِ پکښې ډیرشو د نیو نه پاتې کیږي

نه بلیدو هسې اور د ځ دِ دا مې زړه وو
ګوره چه به سکور د سرو لمبو نه پاتې کیږي

تا چه په کښ وروږو د عشق بوتلم زړکیه
خنګه سې لارې د رندو نه پاتې کیږي

وی به مې ګواه سبا دا سپین سپین دیوالونه
هم دغه لوګې چه د ډیوو نه پاتې کیږي

یاد مې د دنیا له یاده ځکښې ځکښې درومي
خنګه به دستا دیادیدو نه پاتې کیږي

باده د بیلتونه چه په لوری بیارا نه شې
سترګې مې د یار د تماشو نه پاتې کیږي

زړه له دا رودی او کچل مې د بصر دې
خاوره د چه دِ کومه په لار خپو نه پا کیږي

بیارا غلله شپه او ځلند ستوری یار رانغې
بیا به مې خاطر نن د خوبو نه پاتې کیږي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه پښیمان نشې په بیا کښې څهٔ دي
پرېږده راوګوره په دا کښې څهٔ دي

زما په اوښکو کښې خندا ده د ستنا
یاره د ستا په دے خندا کښې څهٔ دي

شمع د نن شپې نه سبا جوړه وه
سبا به مړه وي په سبا کښې څهٔ دي

زړهٔ مې دې ستړے په ټپونو کړو
ګله د ستا په دې ګیلا کښې څهٔ دي

خاطره نه چه ماته نه شې کتې
لږ مې پوهه کړه چه په ما کښې څهٔ دي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

چه ځې روکړې دیمو په پیمانو ښې
سو دې کله بیا د ب په بهانو ښې

څوچه خدائې راکړې نه وې لوبه ژاړم
د خیبر فصلونو تل په بارانو ښې

که د سنا په نوم بدنام یم پروا نشته
لیونی عښق و نه تل په لیونو ښې

چه د زړه کور ته د ې راشې پروا مکړه
اې خاطره خاطر تل د میلمنو ښې

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

درخت د ګلزار ونوے دا غوټه نه جوړیږي
زما سره سپر لیبه ستا ګلونه نه جوړیږي

یو ځلے ئے وران کړے ستا تصویر را له اشنا
هم هغے زما هغه فکرونه نه جوړیږي

راضي شه د یار غمه د دنیا د غم سره
یو کور ے دے د زړه پکښے برجونه نه جوړیږي

اے زړه نه را نه وائے چه یار راشي خه به کړو
د خوبه ځنے د راتلو ے تعبیرونه نه جوړیږي

زه خولے اشنا لا د پخواه نه لیونے وم
د عمر لیو لنوته ز نځیرونه نه جوړیږي

زه نا ته په قدم ښه او ته ما ته وے ولاړه
زما او ستا په منځ کښے پیغورونه نه جوړیږي

خاطره یو درځ نه ده نن زړه جوړ او سبا وران
چه ډیر کوي غمونه هغه زړونه نه جوړیږي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ګله د سنا د خندېدو شپې دي
زما د اوښکو د شېبو شپې دي

په لا ملنې تنګ وخت کښې حال وپوښته
دا د زړونو د تېرېدو شپې دي

په تا اختر اوس د ځوانۍ را غلې
دا ټولې شپې د پسرلو شپې دي

د بخت سپوږمۍ نهٔ به را خېژي کله
اوس نو د زړونو د محفلو شپې دي

دا زه خاطر درنه تپوس کومه
د بېلتانه دې نورې څو شپې دي

خاطر د وینو غړغړې وکړې
دا د زړونو د شهیدو شپې دي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

درے دنیا نه چه ګلان ورک شی
غبز د بلبل به په بوستان ورک شی

را نه چه زاړے ستا زړا هیڅ نه ده
لکه درباب ګټے چه یاران ورک شی

هره ے سود په لیونتوب نه کیږی
چه ګټې مشکل ګټے ے ګریوان ورک شی

څو به لټومه ستا ورک شوی پلونه
چه د خاطر پکښے چشمان ورک شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا سے یله شپه به په نصیب سره راځي
په عمر کښے راځي خو د رقیب سره راځي

خوشحال له وی په غم کښے بیداره شام د ام
را در ومی خوشحالئے دِ د حبیب سره راځي

څوچه په تندی ئے دازل لیکلی نه وی
دومره زخمتونه د غریب سره راځي

خندیږی او گړیږی سره گلونه د صبا
نغمے چه د بهار د عندلیب سره راځي

نور خلق که رغیږی په دارو د طبیبانو
خاطر له مرضونه د طبیب سره راځي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دستا په غم کښې خوشحالي پټې دي
په دِ زندان کښې آزادۍ پټې دي

زړه که نه ځي زه ليونے خونه يم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي

په خورو زلفو کښې راګورے په چل
په دے ځنګل کښې دهوسۍ پټې دي

په کوموسترګو به بيا بيا درځمه
په اشارو کښې دِ نهکۍ پټې دي

خاندي چه جوړے شول دَ زړهٔ زخمونه
ايله په وينو ځے خوګلۍ پټې دي

څه شو په خُله که دِ رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلۍ پټې دي

په سرو سرو ګورم تورو سترګو ته دے
چه پکښې څه بلامستۍ پټې دي

ستا له سينګار نه مے ځواني شله لوګے
ډيرے په خاورو کښې ځوانۍ پټې دي

دستا په خيال زما خاطر شوا ير ے
خود اُميد پکښې سپرغۍ پټې دي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زما چه دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نه وینه سترګې که هر چېرته سترګې دي

له هره دره او تلې سترګې مې اشنا
که وګې دي که تګې خورې درته سترګې دي

ته تل رانه مُسکېږه په دِ عمر مه شه جوړه
زما خو هم ګلفامه دې پرهر نه سترګې دي

د مینې سمندره سترګې غرقې مې کړې تا
وتلې مې له تا کله بهر ته سترګې دي

په اوښکو مې کړه ستړه وړه ونه مې د عشق
که ګل ئې د مخ رژي خو ثمر نه سترګې دي

دا اُوچه خیژی بنه وه په وخت سترګه رسبا
زما خو هم خټلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره که څو غواړې زړه له تا د یار دیدن
زه نهٔ شم ور کتلې زما نمر ته سترګې دي

چه کښې دَ رته دَ ډیره هجره نه شم
دَ ستا سترګې کوږې دَ زړهٔ نه وځي

خدائے دِ هغه وخت رانه ولي صنمه
چه ے ستا د دیدن تږې دَ زړهٔ نه وځي

که دَ سترګو نه ے وځي دَ ستا سترګې
او ے وېل که ے جرګې دَ زړهٔ نه وځي

موده پس سره یو ځائے شو په محفل کښے
ستا بانړه ے نن نیزے دَ زړهٔ نه وځي

جمع زړهٔ لره اشنا چه زه دَ ستا یم
چې ته ے زلفې خورے دَ زړهٔ نه وځي

دمخ لرے کړه پلوٌ زه دِ لوګے یم
چه ستا دمخ لمبې دَ زړهٔ نه وځي

ترهغې به دِ رقیبه زړګے وچوي
چه خاطر دِ معشوقې دَ زړهٔ نه وځي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وړاندے بهٔ وړ اوسے چه کاتهٔ بهٔ شی
اوس چه په ژوند پوهٔ شوم وایم څهٔ به شی

وایم ستا بنړو ته د زخمی زړهٔ سته
بس دے که وی داسے نوسارهٔ به شی

نهٔ ومه د داسے جدائی خبر !
ما وے په ساعت کښے تله راتلهٔ به شی

وئے کړو تپوس چه راځهٔ څهٔ غواړے
ما وے چه که راشے نو خوارهٔ به شی

ستا د حُسن شمع او دا شوق زما
مه ئے پریږدی دوارهٔ سره مړهٔ به شی

هر وخت چه ژړا کړی خندا نشته دے
زړهٔ خو د خاطر اوبهٔ اوبهٔ به شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

عکس دستا زما له سترګو د ځمیار نه وځی
د زړهٔ له کوره مے بیلتون په یو ګڼ ار نه وځی

دستا کوځے له زه دروغ ځان په خیال نه باسمه
چه تاؤ را تاؤ نشی د ستنے سوم نه تار نه وځی

اے شمع رویه راشه نور د غه ضد ونه پریږده
چه په میڅ دے هره شپه د انتظار نه وځی

دستا د عشق په سمندر کښے مے ژوند ونجور دے
چه پرې نبتیا خو سمندر وی د انکار نه وځی

شیبے د اوښکو د خاطر پسے ایله زیاتے شوے
ښکاری دستا د ځوانئ اوږد شو بهار نه وځی

○

پہ ارمان د نادانئ شی چہ اوبنیار شی
خوشحالی او خوب ئے ورک شی غم ئے کار شی

تخت و تاج او بادشاهی ئے پکار نہ وی
پہ ارمان د دروغ صورت وی چہ بیمار شی

پہ توبہ باندے هیر بد بنکاری چہ زوړ وی
بنکاری بنہ چہ پہ ځوانئ کښے توبہ کار شی

لیونی پہ کاڼو لبڼی ورتہ خاندی
د اوبنیار و ځنکن ت پہ یو کنار شی

خپلہ غمہ د یار غم ے لبن میلمہ دے
تا بہ وکړمہ وار وکړه کہ د وار شی

تہ د خپلے سترګے وګورہ چہ څہ کا
د خاطر زړګے بہ څہ رنګہ قرار شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زړکیه تا دے چه دردونه څه دی
دا په کوګل کښې دِ ترږکونه څه دی

زړهٔ په ښېروے وله څوک ئے وینی
وهه وهه دا سترګکونه څه دی

بس څوکه مخ دے لو ګلفامه دَ ستا
دا د خورشید قمر مخونه څه دی

نه ده اسانه اشیا نه ستے د زړهٔ
لا د ستم دِ تندرونه څه دی

د ستا منزل دِ دومره لور لرے شی
ګډو ړندو ته تیندکونه څه دی

که مے ذرے کا نور نو لا به ښه شی
ستا د فضا لا وسعتونه څه دی

چه مرور وی یو ساعت ئے ګوره
چه وی پخلا نو بیا ګلونه څه دی

چه مرور ئے پتهیدے خو ته شے
مانه په غلا غلا دیدنونه څه دی

دا په خاطر ګلفامه ستا دِ شونډو
وی په خاطر دِ پرهرونه څه وی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نظم

زړۀ مې کله هر څو را نه هر څۀ غواړي
هيڅ نه کړي خبر چې هر څه زړۀ غواړي

آماشومه زړۀ ته رانه بنه وائې
هغه رانه غواړي چې ماشومانۀ غواړي

تل وي بې پروا د کړنګو نو نه
څوک چې چل منزل ته رسيده غواړي

زړۀ ورد نظر ځينې دِ خلاص کړمه
لور دِ لا بنا الست را ځينې څۀ غواړي

هر سړې د ستا د ديدن ورېنه ړي
دا خو هم زړۀ غواړي هم ييمۀ غواړي

خير دې که زهير شوم ځان ته کوان شومه
بد هم يکښې وي چې څوک ئې بنۀ غواړي

خلق پرې تير شوي د سرو دنو نه
ځله را نه خاطر په تشه ځله غواړي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دستا ظلمونه د زغملو نهٔ دی
زه ځے منم خو د منلو نهٔ دی

مینه مے زړهٔ غواړی خو راشه کته
دا شپے د ځان له تیرولو نهٔ دی

تا چه پخپلو وعدو څه وئیلی وو
سخت وعدے د ماتولو نهٔ دی

د بے صبرے ځے او ښکلے م را غلے په مخ
وائی خاطر د وچولو نهٔ دی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نن خو مانه هسې بله دنیا ښکاري
ناچه نه وینم نو څله دنیا ښکاري

بې له مانه هسې کله صحرا ښکاري
بې لتا نه هسې کله دنیا ښکاري

تنګ ګوګل یوه دنیا شي چه ته یار شې
بې تا تنګه د ګوګله دنیا ښکاري

چه په هجر وصال نه پکښې پوهیږم
دا د ستا ده که مې خپله دنیا ښکاري

هیڅ خاطر دِ خزان ونهٔ کړو خاطرٓه
څنګه خړه او بې ګله دنیا ښکاري

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## ی

راشه په کوڅو کښې د دېرګو خبرے نه شی
چې ته چه په مونږ کښې دېردو خبرے نه شی

ډیرو شپوله راشه چه دیوبل نه خبر شو
باره په یوشپه د ډیرو شپو خبرے نه شی

وایه د ګمان سره چه دا یه ورته وایمه
را چه شی اشنا په حوصلو خبرے نه شی

یاره ستا د هجر او بېړدو شپو شو کیره کړے یم
ګوره چه دے اوس په اسویلو خبرے نه شی

زه او ته چه او بیتو د ورا یه سره پوے شو
چاره چه په سترګو کښې د زړو خبرے نه شی

خدائے خبر خاطره زه بیا چرته ته بیا چرته
پریږده اوس په تلو کښې د راتلو خبرے نه شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

څه چه پرې په ما زما د یار سره جوړېږي
خبر دې زما زړهٔ د انتظار سره جوړېږي

کله په یو رنګ شي بیا سل ځل په بل انداز
سل ځلې دیدن د چل چل وار سره جوړېږي

وګوره واړهٔ څنګه په سترګو کښې اقرار کا
بس خو د یار شونډې د انکار سره جوړېږي

څه په خاطر کېږي نن ښکلیو په صفت
هغه وخت را غلې دې چې د دار سره جوړېږي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

خزان لاړ شي بهار راشي ګلان خوشحاله شي
بلبل ئې د چمن دي بوراګان خوشحاله شي

نن خومه راګوره ځ ډ بل خوا واړوه !
پرېږده چه نا پوهه رقيبان خوشحاله شي

شمع چه بلېږي د محفل د پاره خاندي
زړهٔ کښې داسې وائي چه عاشقان خوشحاله شي

راکړه جفاګانې ستمونه که غمونه وي
زړګې د خاطر وچوهٔ خو چه خان خوشحاله شي

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ما وے نن به مے زړۀ وچوی خو دردونه دی تیرېږی
پرېږده څه کړے تپوسونه خوږختونه دی تیرېږی

جوړے تا اراده کړے د دا تللو زما په لوری
نن مے سترګونه د وړاندِ مشالونه دی تیرېږی

جانانه زه دے زغملے شم که دی د ستا دلاسه
هرڅوکه سنمونه طوفانونه دی تیرېږی

ستا د حُسن په بهار کښے یاره نورے رنګینۍ شته
د دهر په خاطر یاندِ غمونه دی تیرېږی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

دستا په ستر کو کښې به څهٔ پاتې شي
رقيبه يارې چه په خلهٔ پاتې شي

ستړې مزدور سحر وختي پاڅي
د شو ګير وميين او دهٔ پاتې شي

يو ځلې تيغ په دې لار راشه اشنا
چه دِ کاږه واږه کاتهٔ پاتې شي

افسوس چه ستا په خيال کښې څه بيکاره
داغه ارمان به مې په زړهٔ پاتې شي

وستا په ښه ديدار ترا خهٔ خاطره
چه په کتاب کښې دِ خواږهٔ پاتې شي

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زما د اسیلونو ورځے شپے وغزیدے
هر څو ستا د منزل که مرحلے وغزیدے

اوس چرته ترینه لاړ شم بیونے چه کړمه یار
هر ځائے بنے ئے د زلفو زولنے وغزیدے

نن محفله اوس دِ سمے لاړے ماته کړے کمړنګے
نظر د ستا د مخ پے پلوشے وغزیدے

چا هسے دا سے اوړے چه خاطر کړه یار پخلا
په دے د رنیبانو جنازے وغزیدے

○

هر څوک چه د زړهٔ قرار ولوله راځي
یو هیر م وی نه چه قتل و لوله راځي

بلبل کړی د ګل وصف که بهار دی که خزان
بورا نهٔ خوځی پس یو بنګولوله راځي

غمونه د اشنا زه اوس په هیڅ نه هیروم
ای غمه د دنیا که هیر ولوله راځي

ارمانه دَ اشنا شه د اشنا سره میشته
چه زړهٔ ته د خاطر آزار ولوله راځي

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا سې راته ګورې لکه نهٔ چه راته ګورې
نېغ مې د زړګي وځي کا بڼهٔ چه راته ګورې

کله چه د زلفو ورېځ لرې کړې له مخه
شي دِ پلوشې ښکلې بانړهٔ چه راته ګورې

هغه وخت لړز پېړوېٔ تا چه مخ راځنې پټ کړې
دا سې معلومېږي لکه نهٔ چه راته ګورې

ته زما د زړهٔ منه د خپل حُسن تپوس وکړه
زه به درته او وايمه څهٔ چه راته ګورې

نن ښې خوږ خاطر وکړه چه ما راته را ګوره
زه درته کتې نه شمه نهٔ چه راته ګورې

ته به په زړهٔ کښې ماله څهٔ راکوې
که راکوې ماله به زړهٔ ګډ راکړې

منعه به نهٔ شم ستا د دره ځنې
په دې دِ نه یم که څه نهٔ راکوې

څه لوې اختر دِ د ځوانۍ تېر کړو
ته به لا سونه ماله ښهٔ راکوې

داسې چل دِ کړه چه هېر وو د دیدم
سبا به ښکلیه یوه لمبه راکوې

دا خوشحالي به ماله څوک راکوی
چه ټول غمونه ماله تهٔ راکوې

چه ړوند او ګوډ دِ کړم نو ماله ښه شوه
اوس خو به هر څه په ګالهٔ راکوې

ضد د خاطره سره مه کوه مته
که یو آواز راله په خلهٔ راکوې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه دسترګو دي ښکار زړنې زما سترګې
چه ئې نه شي کړې پو ښتنې زما سترګې

زړه کچکول کړمه داوښکو په زنځير کښې
چه درګورم شي لمڅنې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لېږ راکوره د زړه سره
درنه غواړي جوړ بخښنې زما سترګې

دهر چا دِ د بد لوښه مبارک شي
ورے ستاد پيرزوينے زما سترګې

په ژړا باندے خونه شي چه زه ژاړم
هر کے ستاد در لمسنې زما سترګې

ستا دسترګو کړي خاطر چه نه درګوري
هسې نه چه دي هارنې زما سترګې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

اُد ښکے نه کمیږي خورا ماتے شوے
تا چه خندا وکړه لنو را زیاتے شوے

څو ځله دا او ښکو سره در غلم
دا څنګه جرګے او ننواتے شوے

څو به ګوري سنا سترګے زما سترګے
لرے دِ وي خیر دے خوچه پاتے شوے

تا چه د خاطر سره څه کړي دي
خبر دے اشنا دا مے در ته پاتے شوے

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه ما سنا ئېلې يو په سله نهٔ ئے
دا ته د بل په وینا خـــله نهٔ ئے

که ثوک خوثان در ته زرے ذرے کا
خپله کوے نه د چا خپله نهٔ ئے

دا ته خو چرته یے چه نه ئے نه ئے
هر وخت زما سره ته ثـــله نهٔ ئے

خاطر به هم په ثنا اتبار کوی لا
ته خو هم هغه ئے ثه بله نهٔ ئے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

راشه اے مهتابانه په توره شپه بڼه
یم تر زلفو پریشان په توره شپه بڼه

د تهکرو بے پروا یم ستا په عشق بڼه
لکه بحر یم روان په توره شپه بڼه

په خندا اے ستا تسم وی شمع رویه
خو به کرمه دا کیریان په توره شپه بڼه

زه خاطر د ستا د زلفو نه ډار نه کړم
ما لیدلی دی ماران په توره شپه بڼه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خدایه څومره بے وفا زما دلبر دے
چه د غمه ئے زمزم په ده اختر دے

د هجران د لاسه شب و روز ژړیږم
څکه داسے په اوښکو گریوان تر دے

یا خو زه ورته نظر کوے نه شم
یا خو دے ډیر په لیمو کښے زورور دے

اوس مے سود په بل بشر د زړګی نه شی
چه لیدلے مے دیار ښکلے بشر دے

تور بانړه د یار د عشقو په مثال دی
چه وشتلئے ئے زما د زړګی سر دے

دریغه زه خاطر څه پوے پخپل تصور وے
چه په ځیاندِ زمانه مرور دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

 څومره ډېرې په زړګي باندې چه غم دے
داشناسو په پرېشي وائي کم دے

زه چه هسې پرېشان و سرګردان یم
هر یو غم ئې لکه زلفې پېچ وخم دے

دهجران دلاسه شب و روز ژړېږم
راشه یو وارې په سترګو مې تورتم دے

هغه خاوره مې دارو ده که چارا وړه
چه په کوم ځائې باندې اېښې ئې قدم دے

ټول عالم ئې ډېر صفت د سخاوت کا
ګیله څله کړم چه ځل نصیب مې کم دے

زه خوشکه هسې شومه چه خندل ئې
خلقه ما او په جانان کښې کوم یو کرم دے

چه دلبرې په ژړا پورې نن خاندي
نو وهجوي شوې مې د سترګو کله نم دے

حکیما نو لره مه دروه مه خاطره
دیار شونډې دې پرهر لره مرهم دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

چه ښکلې وې اُو خندن يبدې شونډې
خو به د سترګو خوښينې شونډې

دا ته چه لاړې شونډو هيڅ ونه وې
بس که په تا به ياد يږدې شونډې

سترګو له زه که قسمونه ورکړم
زړګيه ته کله پريږدې شونډې

شوې جوابونه د خاطر ته خطا
په کشمکش کښې رپيدې شونډې

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زړۀ په دانۀ دې چه ناوے ځ دے
چه کوم سئے خوښ شی هغه ښکلے ځ دے

ځو نه ډیر دی خو دا ځ ے خوښ دے
والله په ټولو کښې وتلے ځ دے

پریښ ده چه او ښکلے بهیږی په ځ
دا بے ګناه جانان د تپلے ځ دے

څه وشو تا که دیدن بند کړو پلما
خاطر په زړۀ کښې ستا سا تلے ځ دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

س خوږ خو یود مینې په ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه په تماشو کښې انتظار دے

ستا لمنې وعدې چه په ما څومره اوږدې کړېدې
ښه دِ چه د ژوند په ورځو شپو کښې انتظار دے

مه کړه ضبطه مه چه راله اوښکې وچې نکړې
وریږی دِ د چا په دِ شیبو کښې انتظار دے

تا چه د وفا پلوُ په ما باندے و منهٔ نیوو
ما ته څه د هجر په غمو کښې انتظار دے

لارے د اُمید د زړه کې تسنې پاتړے مے وچے شو
بیا در ته سپرلیه په راتلو کښې انتظار دے

ما وے چه که نن نهٔ وی سبا له به دِ خوښه شی
دیرے در نه کړے په اسرو کښې انتظار دے

کله به د ستا د حُسن شمع راته بله شی
ګران راته د زلفو په تیرو کښې انتظار دے

ښه ده چه خاطر دِ دومره مخ ته کتلی وو
ښکلیه ستا دیدن په سرو لمبو کښې انتظار دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

دڅان سنګارولو کښې مُسکئ وے مالیدے
زما د زړهٔ په سولو کښې مُسکئ وے مالیدے

پرون مے څه پروا ستا په ګنار نه وه صنم
زما په زړهٔ ویشتلو کښې مُسکئ وے مالیدے

شاید چه وه دریاده حیرانتیا مے هغه وخت
آئین نه په کتلو کښې مُسکئ وے مالیدے

خفه یمَ په داکه ښه نے ستا له سپے کړم
رقیب نه په ویشلو کښې مُسکئ وے مالیدے

لبان دِ لکه پانړے انګی دِ سره ګلونه
سحر چه نه په ګلو کښې مُسکئ وے مالیدے

خیرے په غصّه کښې کیږی هم دَچا خاطره
اشنا چه په کنځلو کښې مسکئ وے مالیدے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اشنا مے نن لیں و تیرے و عدے رایاد یدے
داوصل که هجران وو چه کیلے رایادیدے

لیس وومے ستا ارمان په زړهٔ کښے نور څه وواشنا
دانهٔ چه ما نه نورے مرحلے رایادیدے

منم چه فراقجن به نور سبا رایادیدے
نه ماچه اشنا لاړو ما ته شپے رایادیدے

که هیرے شوے نو یاد لره په هیر دلشي بنه
نخوامے لا په زړهٔ کښے اوسیدے رایادیدے

ووم دومره لیونے ستا د پریشانو زلفو زه
چه چرنه خو یه خاروے بادبدے رایادیدے

زما د زړکی یار شو دمخکښې نظر سره
په هیڅ نهٔ هیرېدلے هم دا سے رایادیدے

دا نهٔ چه آهو چشمه اوس ئے غټے ستا یم زه
دستا خمارے سترګے لا ورے رایادیدے

بیګاه چه شمع رویه هرڅه هیر وو د خاطر
د ستا د محفل ښکلے تماشے رایادیدے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

دستا چه نه وینم داتورې سترګې
پکارې نه دي دا راپورې سترګې

زه به ځې د بل سترګو ته پورته نه کړم
دستا په یال مې دي لشکورې سترګې

ساقي دستا پیمانه څه کومه
چه دا اشنا مې دي میخورې سترګې

خاطره ژاړه د هجرانه سره
په تصوّر ګنې خوږې ګورې سترګې

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

که دِ دا زلفې په لاس را غلې اشنا بیا به څه کړې
که زه عادت دِ دَ بلا سره شوم بیا به څه کړې

در ته کتې نهٔ شم حیران یم داشنا سنګار ته
تا مې چه دا سې په اشنا وکړل په ما به څه کړې

څو به خیرې او دار تېـــــه تل تېه ما نته کوې
چه ئې پیر زوینه وی دعا هغه اشنا به څه کړې

چه څه ئې کړل هغه ئې ټول وکړل په تا خاطره
وایه چه تا له په لاس راشي په اشنا به څه کړې

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

سترګو دِ چل چه د خندا زده کړے
سترګو زما چل د ژړا زده کړے

په لنډو پیلونو یه ځغنګه ځمه
ما خو تل تک چه د صحرا زده کړے

نن دِ دنه وے په وعده کښے راتله
هر وعده کښے دِ سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مه کوه!
اشنا خو یو چل د جفا زده کړے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

لکه مجنون غونډې ګرځم په بیابان در پسې
وایم په خله لیلا لیلا سترګې ګریوان در پسې

نشوم خېر زه د وصال د خوشحالۍ نه چرې
لکه وحشي کړمه غمو لو د هجران در پسې

نه دِ اشنا یم نه چه بیا را ته اشنا او ائې
پروا مې نشته دې په تا نه کړم خفګان در پسې

چه نه بیا نه وائې په ما چه نه شېدا ته ئې نه
که د کمروې ګذار نه کړو خپل ځان در پسې

په حال خبر شه چه نزدې را نه شې خواله زما
چرې په لاس ګرځي خاطره رقیبان در پسې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پوهه شومه په دې چه په کنځل کښې څنګه ښکارې
وفانده یو ځل چه په خندل کښې څنګه ښکارې

ستا د تصوّر په یو جونګړه کښې او سېږمه
نه خوراته وایه په محل کښې څنګه ښکارې

څومره به په باغ کښې ته په غتو وے خپل ځان ته
ګله د اشنا په سره منګل کښې څنګه ښکارې

سترګے ئې په ما کښې دی چه کورمه هرچا ته
ن راته اے شمعِ په محفل کښې څنګه ښکارې

تا به په آئین کښې ځان لید لے په یو رنګ وی
راشه د خاطر په هر غزل کښې څنګه ښکارې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

څه وشو چه سترګے مے په تا باندِ خوږے شوے
چا ته پورته نه شوے چه دستا په لور کږے شوے

ګوره دا ګریوان مے چه وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلیږی دستا دزلفو څه رنګه حلقے شوے

ما خو به وئیل چه دستا خُله ډیر آسانه ده
ګرانه شوله څکه دوموه خُلے چه راپسے شوے

اوس هم سنا د مینے افسانه زما په شونډو ده
نورے افسانے مے په زړهٔ ګوتمی بښے ورستے شوے

سترګے دَ خاطر کړه سنا په سترګو نیر و تلے دی
ګورمه دا بدے که زما په حقله بښے شوے

تا به کتو غل چرته خاطره رودک شوی زړهٔ
ته ګوری چه تا نه داشنا سترګے لس غلے شوے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

چه ګ... نظرے د بصر پاتے دے
جوړے منزل نه ډیر سفر پاتے دے

شپه که اوږده ده د خورو زلفو ده څو
وار دِ د سپین مخ د سحر پاتے دے

زار دِ د مینے دلمبو څنے زړه کهٔ
لاء په مینه کښے ځیګر پاتے دے

نیوس د شپے وکړه که کړے یقین
ستا انتظار را نه سحر پاتے دے

د انتظار ډیوے چه بنده نه شی
اُس خو شپه تیره شوه سحر پاتے دے

ما خو د ستا په سر وطن ګنړلو
خیر شه اُس را نه خیبر پاتے دے

زه او انګار رله تا په کوموسترګو
لاء د تن دپاسه سر پاتے دے

لو قاصد په جنګه رخصت څنګه شم
د یار خاطره چه خیر پاتے دے

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

چه اشارې کړم ایسارېږم وې
چه پښېمان ئې تیارېږم وې

په یو ساعت کښې بیا بیا ژړوې
چه اُس ژړېږم قرارېږم وې

دریغه چه مړ دِ ستم نه وې زه
چه نه حړکېږم آزارېږم وې

لنور به دِ ښه وکړي بانړه په خاطر
ټول دِ پر هر کړمه یرېږم وې

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

اے ګله ستا چه د ګے د حیا نه سترګے لاړے
خوږے لږے بړے د ژړا نه سترګے لاړے

ماوے چه که وروکورم خو بیا مخ پټه وی
بنکته ے کړیوان ته د حیا نه سترګے لاړے

محفل ته چه ته راشے تهول دستا په تماشه شم
محفل ته چه نه راغلے د هرچا نه سترګے لاړے

څه وشو که مړے د خاطر سترګے په تانه شوے
ډیرے داسے ورځے د دنیا نه سترګے لاړے

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

○

تک تور سوی دا ستا سوے اوربل دے
چه دے اور د ښکلی مخ ترِ لاندے بل دے

چه ځوځم په مخکښې لا منزل زیاتیږی
اشنا ستا دے منزل څنګه منزل دے

چه دے شک په کومه لار دے سودائی شوم
نورے هیڅ موندلے نه دی خو ستا پل دے

چه اشنا دِ پکښے اوسی اے خاطره
خیبر او ګڼړه حرم ګڼه خوشحال دے

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ډیره خوشحالي بنه نه ده بیا رانه هېرېږي
کله کله غم راکوي تل چه مې یاد یږي

زه دې یم لوګې پټېدې نه شي رانه شمعې
خدائیګو درته پٔه تیرو کښې بنه ښکارېږي

ما نه دا اشنا دوعدې هر بوځائې اشنا دې
اې وربه نظره نه پٔه هیڅ هم نه مرېږي

تا به دخاطره نه وي پٔه زړٔه کښې څه تیر شوي
دومره بې پروا ئې چه پٔه څٔه کښې مې تیرېږي

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ماوے ځان را ته اشنا د ستا په څیر دے
دے وے ورسلو به نه پوے شے څه وائے خیر دے

دے وے زړۀ ګه څیر دستا زما په زلفو
ماوے سنا هر یو کلِف ورلهٔ کاوشیر دے

دے وے زه یمه هوسئ په میرو روړه
ماوے زړۀ زماکَ لوړو غرونو شیر دے

دے وے بیا ته مخ بنکاره کړه که پښتون ئے
ماوے هر پښتون پخوا د سره تیر دے

ماوے زه خاطر دِهر وخت یم په طمعِ
دے وے راشه دلته کینه غمے ډیر دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه زړه مې ستا په تور دې په بل تورې پېرزو نه دې
نظر چې ستا په تور کړم په بل تورې پېرزو نه دې

اې هجره چې مې ورانه نه کړې داد زړګي خونه
ارمان پکښې دیار کړمه په کورې پېرزو نه دې

دا نه چې هر بنا الست بانګ شیدا دې زما زړهٔ
د ستا په مخ دِ سوزي خو په اورې پېرزو نه دې

بغیر ستا د محفلې ځنې ئې نه شي څه ګزرانې
در درمې به خاطر خو په بیغورې پېرزو نه دې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

شابد چه حسن دا شنا ے دلمبو نه ړک دے
د زړهٔ جهان ے د لوګو د اسویلو نه ړک دے

خوبنه ے ستا په بڼو غشو ده ویشتنه دَ زړهٔ
ګنی وطن خو هسے یاره دا زغو ته ړک دے

دستا لفیب شه خوشحالئے د بے غمے خو بونه
زماد خوار غریب لفیب د شو ګیرو نه ړک دے

نمر مخی مخ ته ے له ورایه نا خیر کتلی
ن را ته څکه دا جهان د پلوشو نه ړک دے

راشه ګلونه ګوا هان دی په صحرا کښے زما
چه تبول چمن زما د اوښکو د شیبو نه ړک دے

دا حسرتونه دا غمونه تنګ ګوګل زړګیه
له دِ خوګو ربنه دے هر څوکه د تیرونه ړک دے

زړه ے یوه دیونتوب پکښے سودا وکړله
بازار د حسن خوله ډیرو تماشو نه ړک دے

همد مه مه رایاوه دا تیرے هیرے قیصے
زما زړګے خو د ختنے لاد ګیلو نه ړک دے

زما خاطر ئے له شکو نو له فکر و نو ړک کړو
د مخ کتاب د رالہ راوړ ه د قیصو نه ړک دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# متفرقات

نظمونه، لوبے، ټپے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ښکلي دوران دے زمونږ

د ترقئ په تماشه نن ټول جهان دے زمونږ
ښکلي دوران دے زمونږ
د منزل سرته رسيدلے اوس کاروان دے زمونږ
ښکلي دوران دے زمونږ
د چا پروا نه لرو چه دغه پاک وي زمونږ
خه ده دا ټوله دنيا چه اتفاق وي زمونږ
هر يو مشکل مو کړو اسان پوره ارمان دے زمونږ
ښکلي دوران دے زمونږ
د ترقئ په تماشه نن ټول جهان دے زمونږ
ښکلي دوران دے زمونږ
د تنکسو شپے لاړے د ازادئ ورځے دي
روښنيئ ور کے شو لے د خپلوئ ورځے دي
دوښمن په خپل کور کښے له غمه پريشان دے زمونږ
ښکلي دوران دے زمونږ
د ترقئ په تماشه نن ټول جهان دے زمونږ
ښکلي دوران دے زمونږ
وطن به نور هم ښه شي چه دا زلمي وي پکښے
خزان به رانه شي بيا تل به سپرلي وي پکښے

هم د غه خپل وطن پخپله ګلستان دے زمونږ
ښکلے دوران دے زمونږ
د ترقئ په تماشه نن ټول جهان دے زمونږ
ښکلے دوران دے زمونږ

په چا مو کار نه دے کړے هر څه نن خپل دی زمونږ
چه څه په زړه وو زمونږ نن یو په سل دی زمونږ
مونږ بد نیتی نه کوو ځکه دا ایمان دے زمونږ
ښکلے دوران دے زمونږ
د ترقئ په تماشه نن ټول جهان دے زمونږ
ښکلے دوران دے زمونږ

چه کړو دنیا حیرانه دا سے همت کړے زلمو
خدائے برکت کړی پکښے تش حرکت کړے زلمو
د خپلو متو په همت خپل کور ودان دے زمونږ
ښکلے دوران دے زمونږ
د ترقئ په تماشه نن ټول جهان دے زمونږ
ښکلے دوران دے زمونږ

خو مونږه صبر کوو د چا نه لاندې نه یو
دا سے هیڅوک نشته دے چه مونږ پرې باندې نه یو
ځکه چه وګورو نن تاسو پاس په آسمان دے زمونږ
ښکلے دوران دے زمونږ
د ترقئ په تماشه نن ټول جهان دے زمونږ
ښکلے دوران دے زمونږ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پرېږدئ خوبونه کلمو راغونړ شئ ملا وتړئ
دا تفاق په پړی ټول دنیا وتړئ
دا خوّت مرکز دا ښکلے پاکستان دے زمونږ
ښکلے دوران دے زمونږ
د ترقۍ په تماشه ټول جهان دے زمونږ
ښکلے دوران دے زمونږ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# زه چه په تا مئند مه

اوس رانه هېڅ نه شی خطا ده
د هر څه هر څه او ته مه
ګرانه اشنا دا دې سزا ده
زه چه په تا مئند مه

زه درنه څنګه هېرېدمه    خپلو وعدو نه وشرمېږه
تا چه خندل زه ژړېدمه    د هغو شپو نه وشرمېږه
هېره زما تر تولـه دنیا ده
شام او سحر دې یادومه
ګرانه اشنا دا دې سزا ده
زه چه په تا مئند مه

غو په غوږ نه ورځی صنمه    چه وی ژوندون آخر به راشی
درنه په زړه کښې به ئې ساتمه    پرېږده چه بنه مو پرې جفاشی
زما په سترګو کښې حیا ده
زه ئې په څه درواړومه
ګرانه اشنا دا دې سزا ده
زه چه په تا مئند مه

تل به په هر چا دا سې کېږی    په دا سې خلقو چه اتبار که
د خپله ځانه چه خبرېږی    د ګنهګارو به ئې ګڼ اړکه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د ښکلیو مینه بې وفا ده
زه په ئې څه درته ستا یمه
ګرانه اشنا دا دې سزا ده
زه چه په تا مینه یمه

خاطر خو مه وې در کښلی      اوس ئې ژوندون اخستې اوړ دې
هغه چه نا ورته ښکلی      زړهٔ ئې د نور سره خندا نور دې

زما د زړهٔ خوښه ژړا ده
څکه ئې نه قرار ومه
ګرانه اشنا دا دې سزا ده
زه چه په تا مینه یمه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# زړه مې غم د نورې دنیا نه کا

پټې ئې سترګې دیدن د اشنا نه کا
زړه مې غم د نورې دنیا نه کا

زه به څه کړم ګیریان چه یار راکړی ګل
په زخمونو ملهم به کیږدی ډکو ګل
هسې هسې مې یار خندا نه کا
زړه مې غم د نورې دنیا نه کا

ایله زلفې ئې اوس غنچې ته جوړ شوې
دواړه شونډې ئې خندیدو ته جوړ شوې
مل به څنګه زما سودا نه کا
زړه مې غم د نورې دنیا نه کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسیدو
هغه اور مې سم تل تر ځیګر ورسیدو
بې له سوزه خو هیڅوک ژړا نه کا
زړه مې غم د نورې دنیا نه کا

اې خاطره ګیلې د چنل یاره مه کړه
ته طمع ک دل آزاره مه کړه
اې شباب خاطر د هیچا نه کا
زړه مې غم د نورې دنیا نه کا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# اشنا تا پسې

شوې د زړه مې سترګې سپينې اشنا تا پسې
راشه که ئې وينې اشنا تا پسې

لبانو ستا زه دَ بنا ما په شان خوړلې يمه
زه دِ دسترګو په بنړو باندِ وښتلې يمه

څي مې دَ خلې نه تورې وينې اشنا تا پسې
راشه که ئې وينې اشنا تا پسې

په دې هجران کښې به ترڅو پورې کړيږمه زه
شام او سحر لکه ما شوم غوندِ ژړيږمه زه

اوښکې مې څي په مخ رنګينې اشنا تا پسې
راشه که ئې وينې اشنا تا پسې

چه نه کوې په ما ظلمونه راته بېغورې د صنمه
خاطر کوي درنه سوالونه په زړه ئې زور دې صنمه
وَهم رباب څکه د مينې اشنا تا پسې
راشه که ئې وينې اشنا تا پسې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# پس له دے به ځوراځو

نه وسه خبره زه تا چه زړۀ با ئیللے دے
تا ادے ریبار ته پس له دِ به ځو را ځو
خیر دے که تش تور مے دپرون زړګے شړلے دے
خیال مے وو سنګار ته پس له دِ به ځوراځو
اوښایه ځیګر را ته	اوس د زړګی سر را ته
وا به د بنړو غشو په کومکوم ځائے وشلے دے
لاس کښے آئینه مے وه	کړے چه کینه مے وه
ماکتل رخسار ته پس له دِ به ځوراځو
خنکه مړے درشمه	په حال دِ چه خبرشمه
لاس کښے دِ رقیب راته دِک تپوپک نیولے دے
بو ځلے در غلے وم	هیر دِ زغلولے وم
غلے وم دیدار ته پس له دِ به ځوراځو
ماچه کوم ستم کړے	اوس مے په [illegible]اکم کړے
دا د ځوانئے وار په تا ن صبا راغلے دے
شوخاطر غلام دستا	کړی به تل سلام دستا
پرے ئے ده دربار ته پس له دِ به ځوراځو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ترسپا

نن خورا نه سه وایه چه نا — ترسبا
سو دے ساقی نه شی په مینا — ترسبا

اوایه اشنا راته ته زما تعبیر نه ئے
دی چه تل په خیال کښے نه هغه تصویر نه ئے

بله راته ښکاری دا دنیا — ترسبا
سو دے ساقی نه شی په مینا — ترسبا

راکړه ساقی داسے مے چه شی زما او سنا نشه
هم پرے د چیپیا نشه هم پرے د دنیا نشه

جام د لبو راکړه په بیا بیا — ترسبا
سو دے ساقی نه شی په مینا — ترسبا

نن خو دِ را جمع څه په میو کښے کیفونه دی
سترګو پیمانو کښے دِ رنګ په رنګ ستونه دی

ځلے د [illegible] کرشه په رښتنیا — ترسیا
سو دے ساقی نه شی په مینا — ترسبا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# طلب کرم صنم

چم په چم طلب کرم صنم
لوندے کریوان دے خاتی دے نم

مینه وفا دِ نشته
په چا پروا دِ نشته
یره د چا دِ نشته

کوه ستم طلب کرم صنم

رنگ دے تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کومه شور صنمه

وکړه کرم طلب کرم صنم

مینه بهار دے د ستا
چمن ګلزار دے د ستا
خاطر ما لیار دے د ستا

دګل په چم طلب کرم صنم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه سترګې نه ویاسي زما اوستانه
راځه چه درومو دواړه د دِ دنیانه

زما اوستا دلنه څه دي خوبوه میشته
ذا خو هر چې ته کیږي چه داسې دینه

ځان له به جوړکړو بوستان په بیابانه
راځه چه درومو دواړه د دِ دنیا نه

څوبه به ویره سره دیدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره بېګاه سبا کړو

ته شه د زلفو تیره زه ذکر لیوانه
راځه چه درومو دواړه د دِ دنیانه

دا ړک د مینې نړونه به دواړه یوسو
څه چه څنګل ته لاړ شو حلته به اوسو

یو دِ چارګل په پوزه بل دِ پیزوانه
راځه دواړه درومو د دِ دنیا نه

دا ے په خوا خاطر کښې نه وو صنمه
چه زه خاطر به شمه په خاطر جمعه

ګله چه ستا د غمه زیرم پریشانه
راځه چه درومه دواړه د دِ دنیانه

۱

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# الله دِ خیر کړی

د سپن نه کال له ډیر غمونه
د راسي ژوند نه مرګ به دے را دِ شینه
الله دِ خیر کړی

ستا د ماڼو فریادونه
هیر به مے نه شی
لکه د زاڼو قطارونه
هیر به مے نه شی
پاس په آسمان کښې جهازونو سره ځینه
الله دِ خیر کړی

د پښتنو فقیره ژوندونه
څنګه به ښبر شے
ښبرخو به شے په لوږه تندونه
څنګه به تیر شے
په مصیبت به دِ څوک سرته رسوی به
الله دِ خیر کړی

نوم د پښتنو را ځنې هیر شو
څوک مے یادینی
غم د هغوئ راسره ډیر شو
څوک مے یادینی
څوک چه د تام او د اولس خدمت کوینه
الله دِ خیر کړی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خاطره دهغه خلق سنایه
په چپل کتاب کښے
تل په بار بار د غسے وایه
په چپل کتاب کښے
چاچه سرونه په وطن ورکړی دی بنه
الله دِ خیر کړی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

## پرېږده چه وژاړم په چغوچغو

شوګیرې تیوې په سبا سبا کېنې تیرې شوې
پرېږده چه وژاړم په چغوچغو
سنا د بنا لَسته ستړګو د یاره          وګرره ملته بنکلیه یاره
څومره لېږې په زړګوټی باندې تیرې شوې
پرېږده چه وژاړم په چغوچغو
دخدای د پاره لږ دې را شه          که مرور ځې را بخلا شه
ستا د راتلو په انتظار کې سترګې ستړې شوې
پرېږده چه وژاړم په چغوچغو
دا دَ چه لاړې دېل چاشوې          زما دَ زړه ځنې جدا شوې
زما دا سترګې شوګیرې د تیوې هیرې شوې
پرېږده چه وژاړم په چغوچغو
خاطره زه ځان ته حیرانه یمه          که لګ راګور ځې لږ روانه یمه
د پېغلتوب ملګرې توې رانه ګیرې شوې
پرېږده چه وژاړم په چغوچغو

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# واوره صنم

واوره صنم زړه مې نه شي لټانه
ويلې نه شم زه ځان ته د حيا نه

دغه د ستا د مينې دردونه ښه دي په ما
زړه مې د ستا د پاره وائي چه وې دي په ما
واوره صنم

په کومه لاره ښکلېږه چه قدمونه کېږدې
ډېر د مينو په زړه وباندې داغونه کېږدې
واوره صنم

زړه مې د خپله کوره تختي چه را شې صنم
خاطر ډېر ګران دې په ماچه په خندا شې صنم
واوره صنم

○

# بله ورځ به راشم

په تش دیدن باندې روږدو شغولیږه
ځم مه خفه کیږه بله ورځ به راشم
د هرچا پټه پته ستا یارانه به کړمه
تاله چه درشمه زه څه بهانه به کړمه
په انتظار کښې د ګمان سره ژړیږه
ځم مه خفه کیږه بله ورځ به راشم
کړم دا وعده درسره چه تا به هیر نکړمه
یو ساعت بے لتا به په لوږ څه نیر نکړمه
په ګسودلے اوده کیږه راویښیږه
ځم مه خفه کیږه بله ورځ به راشم
نخښه دستا او زما مهتابان شو سره
بل بے کاروان دستور و په کهکشان شو سره
د صبائی دخیال خوبونو کښے څنګیږه
ځم مه خفه کیږه بله ورځ به راشم
ځان ته دا ټول دنیا خاطره ماوګڼه
پکښے مخ او زلفے بیګاه سبا وګڼه
د زړه په مینه کے په سترګو کښے اوسیږه
ځم مه خفه کیږه بله ورځ به راشم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ماته قبوله دلربا ئې

ته چه په مرګ زما رضا ئې
ماته قبوله دلربا ئې!

ستا رضا ده چه دا سې زړېږم
په عالمو کښې دا سې ګرځېږم
په محبت مې نا رضا ئې
ماته قبوله دلربا ئې

عاشقي وه پيدا جوړه ګړ اوره !
لږ زما سوی زړه ته وګوره
جوړ په معنی قيمت بها ئې
ماته قبوله دلربا ئې

خاطره ګوره چه دا مې حيران کړې
محبت کښې دستابند ليوان دې
ئې کبر ژنه بې ريا ئې
ماته قبوله دلربا ئې

# اے زرۂ غمګینه

خوښه دِ شوه له زما د اشنا مینه
اے زرۂ غمګینه

اے زرۂ زرے شه
خاورے ایرے شه

ځي مے د سترګو سترګو د زړګي دینه
اے زرۂ غمګینه

راشه که وینے
د زړګي وینے

دیار په غم غم کښے چه دوئي راځینه
اے زرۂ غمګینه

خاطره د ا سپیے
تا نه جُدا سپیے

جوړه د وصال پشے دیار ځے دینه
اے زرۂ غمګینه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# بلبله سناد تماشو ورځے دی

اوس به وطن د سرو ګلو نو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو
څه به د بنګلو ګلهتو نو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

بلبله سناد تماشو ورځے دی
راشه هم داز د نغمو ورځے دی
نه چه لاهتنه داز غو ورځے دی
ځان کره به خود اوس ګلو ورځے دی

راشه چه ژوند د کیفونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

اوس به تهول بوټی سره ځان ونبائ
څوک به کلی څوک به ګلان ونبائ
لاله به هم سیرے ګریوان ونبائ
هم به بلبل شور و نغان ونبائ

اوس به بنا بنو نه د رنګونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جونه به ولونه دادربل جوړ وی
پکښې ځایونه به دګلونو جوړ وی
سرو سرو غنچو ته به منګل جوړ وی
په آئینو کښې به کاکل جوړ وی

دغه جهان به د نازولو ړک شی
راغې سپرلے وار د خزان تیر شو

ښکلې ځلمی به په شملو کښې یژدی ګل
اوس خو به جونه په کسڅو کښې یژدی ګل
ډیر ارمانونه به پیزړو کښې یژدی ګل
څوک به د زړهٔ په پرهرو کښې یژدی ګل

داسے به زړونه په داغونو ړک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

زه کرم ژړا د چا خندا نه وینم
چه ے ئیده هغه د ښرا نه وینم
ګل د رخسار چه د اشنا نه وینم
زه لوګلونه د دنیا نه وینم

څوک د جهان د دید لونو ړک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا رما لنونو لوے جہان رڼړدی
زړه په کوګل کښے مے جانان رڼړوی
دمینے کل رانه هجران رڼړوی
نه کړی خاطر دغه لوستان رڼړوی

دمخ کتاب دِ درا زولنو ړک شی
راغے سپرلے وار دخزان تیرشو

څه به د ښکلو ننګهتونو ړک شی
راغے سپرلے وار د خزان تیر شو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# راشه یوځل

زړګے مے خرابیږی شمع دریږه سوزیدل
راشه یوځل

ارمان مے دا دے که پوره شی
درنځ دارو دے داشناسوره لیدل
راشه یوځل

څو به شوګیر کړم راته وایه
واړه خوبونه دا ځنے وتښتیدل
راشه یوځل

که دے وعده کړے تلوار رادکړه
صبر دے رانه خوړی مے تور اوربل
راشه یوځل

عاشقان کړوره حال ئے خله شو
لکه پتنګ چه په لمبو وسوزیدل
راشه یوځل

سوال د خاطر منظور کړه یاره
جفا د پرین ده دونیا وکړه کتل
راشه یوځل

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# اور راته بل دے

نن دِ اور بل په کوم پلوو دے
بیا به سوز یې مه زه اور راته بل دے
ژړو نن کاروان دے دغم خړو ګرد ونو کښے
واوره فریاد دے د جرس په آوازونو کښے
تلے دِ پل په کوم پلو ګورے
بیا به سوز یې مه زه اور راته بل دے
ترڅو د هجر دا اوږ دے شپے او تیرے به وینم
سبا د وصل به لرے که نزدے به وینم
د ستا منزل په کوم پلوو دے
بیا به سوز یې مه زه اور راته بل دے
خاطره نن دِ که لږ سم راته کتلی وے
واره بنا لګسته به دِ د زړه څنے وتلی وے
د کتو چل په کوم پلو ګورے
بیا به سوز یې مه زه اور راته بل دے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ارمان

ستر کے بیولی دی ماسنا په رخسار کښې
او به او به شول توری ځی په ځمبوار کښې

ماچه لید ے سنا خپو کښې پل دے
غم د وحشت د وحشت راسره مل دے

اوس مشغولا کرم په دغه لار کښې
او به او به شول توری ځی په ځمبوار کښې

نه د ر سیری نه د ر ته غب شی
نه را ته ځمب شی نه را نه ترن شی

دا څه زړ ته د ر دے په انتظار کښې
او به او به شول توری ځی په ځمبوار کښې

یار ځے د ښکلیو سره روان دے
دے تماشے ته خاطر حیران دے

لکه سپوږمۍ وی ستورو قطار کښې
او به او به شول توری ځی په ځمبوار کښې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# دومره وزګاره نه یم

زما په طمع به کړے نیز هسے وختونه
زه دے یاره نه یم دومره وزګاره نه یم چه درته ګورم

ماته را یاد نه دی څوک زه په څوانئ کښے یمه
په زړګی غم نه لرم په خوشحالئ کښے یمه
زه لیونئ یم چه کوم د دمره فکرونه
زه دے یاره نه یم دومره وزګاره نه یم چه درته ګورم

لیونئ نه یم چه دا سودا کړم
په ننا دے ادر بلیزی زه څه پروا کړم
چه بیا همزولے را ته نه کا پیغورونه
زه دے یاره نه یم دومره وزګاره نه یم چه درته ګورم

دومره وزګاره نه یم زه چه خپل ځان اوینم
چه په آئینه کښے ګورم آئینه پریشان اوینم
جانانه زه بیا درپسے کړمه ارمانونه
زه دے یاره نه یم دومره وزګاره نه یم چه درته ګورم

زه چه ګورم له څمه مینه سوزیږی په ما ؛ ملکه دادر پښتانه سنګار څلیزی زما
خاطره مه راځه بلیزی سره اوروونه
زه دے یاره نه یم دومره وزګاره نه یم چه درته ګورم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# کوم طرف ته لاړ شم

نورے سنزرکے اشارے کا — سرے شونډے دِ بیبے کا
ړګیه راته ووایه — چه زه کوم طرف ته لاړ شم

کله بانړه راته ذا زغی کا — پیښے دګلو انګی کا
چه مسکئ شی بیا سنزرکے ترے کا — سرے شونډے دِ بیبے کا
ړګیه راته ووایه — چه زه کوم طرف ته لاړ شم

بیا چه ارمان در سره نه وی — کوه چه خه دِ ټن زړه وی
چه موخلق ټول تماشے کا — سرے شونډے دِ بیبے کا
زړګیه راته ووایه — چه زه کوم طرف ته لاړ شم

دانتظار په تورو شپو کښے — دا دِ خاطر په تیرو کښے
خپلے او ښکے دِ ځان ته ړیوے کا — سرے شونډے دِ بیبے کا
زړګیه راته ووایه — چه زه کوم طرف ته لاړ شم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# زمانا ترسه یاره

چه ترسا به مې ژړا په ناپسې کړه
رایادې هغه شپې کړې
زمانا ترسه یاره

دلبره بنه را ته معلوم شې!
هسې خو نه چه ته ماشوم یې
کله زهیر په ما مظلوم یې
چه نه پوهیږې دمعشوره دې گړه
رایادې هغه شپې کړه
زمانا ترسه یاره

چه ستا دغې په تماشا ورم
دغه وصال ورکه جدا ورم
نه یم خبر په څه سودا ردم
چه تماشه مې ستا دغې د تماشې کړه
رایادې هغه شپې کړه
زمانا ترسه یاره

چه په غمونو کښې دِ گیر کړم
اوس زِ دلبره خله هیر کړم
که دِ یو ځل په دیدن سیر کړم
گنې دغمه به دِ مړ شم بیا مزې کړه
رایادې هغه شپې کړه
زمانا ترسه یاره

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه د اغیارو زما یار شو ے
بس اوس مے قتل ته تیار شو ے
اشنا زما ځنے و بیزار شو ے
لښته خو ځپله مے ذرے کړه
رایادے هغه شپے کړه
زما نا ترسه بیاره

څنګه قبول د غه بیلتون کړم
څه بے له نا په داژدندون کړم
دلبره مینے دے مجنون کړم
جانانه اوس راپورے تو قے سخرے کړه
رایادے هغه شپے کړه
زما ناترسه یاره

دستا چه نه یمه د حیا یم
را غلے دا یم په خندا یم
سرور نه یمه پخلا یم
خاطره بیا که سرور شوم نو ګیلے کړه
رایادے هغه شپے کړه
زما ناترسه یاره

# څنګه دنیا وینم

زه جهان څه کړم چه نر منځيه باره تا دېنم
څنګه دنیا وینم څنګه دنیا وینم

ستا د ګل په تور وشیدو پو کلا شپې خندا دی
ستا د سرو شونډو د ننګو پورې غنچې خندا دی

دی تماشه ے دژړا چه دے خندا وینم
څنګه دنیا وینم څنګه دنیا وینم

دستا په سینه کښې دخلقو خند نے خوښ یم
خو د نیل عقل نه وز کار شم بیرنے خوښ یم

راسره غم د بیو نوشي چه صحرا وینم
څنګه دنیا وینم څنګه دنیا وینم

ګله چه ما خاطر نه یاد شے نهو ن جهان ګل شی
له ډيره هجره هر یو ګل ے د چشمان ګل شی

خدائے خبر نیا چه زه به ستورے رسیا دینم
څنګه دنیا وینم څنګه دنیا وینم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# بار ے لګ د مهر نظر ماو ته کوه کله

نیر به د ستا د حسن دا رشی یاره زما
اخر خزان به د ے بهار شی یاره زما

چه نه را در وے اشنا نو د عمر خله کوے
هغه پرون د خه وے ن چه بیا بله کوے

زما یقین ستا په اقرار شی یاره زما
اخر خزان به د ے بهار شی یاره زما

ستر ګے مے بے لتا نه د چا په لور نه ګوری
د ستا د مخه ښتے مخونه لور نه ګوری

مړے به کله په دیدار شی یاره زما
اخر خزان به د ے بهار شی یاره زما

زه د بل چا د مینے اشنا څه طمعه نه کړم
زه به نور و سره ستا مینه سمه نه کړم

پما خاطر د که اعتبار شی یاره زما
آخر خزان به د ے بهار شی یاره زما

# عمر دِ برباد زما

چه نه را درومې یاره ته سنګه دِ کړه یاد زما
نه شرمه پوهه په خپل ژوندون ن کړو عمر دِ برباد زما

ان ذ یو ساعت مهمان رې
وارره زما یو څو ګیلې

تار به شي ستا شباب صنم سر دِ نهٔ کړو مراد زما
نه شومه پوهه پخپل ژوندون کړو عمر دِ برباد زما

چا ته بنکاره کړم خپل ځیګر
نه کړې پروا مې پړ د لبر

لوړې دِ ی څوک چه مې واوری دِ خپه فریاد زما
نه شومه پوهه پخپل ژوندون کړو عمر دِ برباد زما

که به نه دِ شي په سر زما
دی پیشاش دلبر زما

دائي خاطر نه زار لینا نشته باقي حیا ښیدا د زما
نه شومه پوهه پخپل ژوندون کړو عمر دِ برباد زما

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# د قام ځلموته

د قام ځلمو ستر کے مو پورته کړے خپل ځان وګورے
چرته یئ او رسیدو او ګورئ جهان وګورے

د قام ځلمو زمونږ هم د غه د ختو ورځے دی
دا سو د ژوند د بنده کیدو د خوشحالو ورځے دی

د ننه په ځیرے خپل طاقت په اتبون جهان خور کړے
په خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړے

شا ته نور مه ګورے په وړاندے خپل قدم کیږدے
په وړاندو لاړو باندے مه ځئے قدم سم کیږدے

له مخے لرے کړے ازغی ځان ته ګلونه کیږدے
شی چه اغیار د ته حیران هلته یئ پلونه کیږدے

مونږ له چه مخے له راغلی وار خطا تلی دی
ځلمو زمونږه ځنے ډیر ځله لیے په شا تلی دی

تا سو هم واورے چه پیغور ته نظر نیت نه شی
د پاکستان ځلمو میدان یئ سوے نیت نه شی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د مشرانو تل ځلمو نصيحتو سره مينه وی
دا مو دے وخت د ترقئ تل داوختونه سره وی

ملا مو د قام خدمت ته وتړے چه سيال شئ پکښے
دا تنګے لنډے کړے آوارے چه خوشحال شئ پکښے

چه نن ئے ونکړے ځلمو بيا به ئے کله وکړے
د خپل وطن خدمت ته پوره شئ پخپله وکړے

يو بل ته مه ګورئ له ځان هر يو مايار جوړ کړئ
د پاکستان د هر يو ګوټ نه ګلزار جوړ کړئ

○

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# چه پاکستان جوړ شو

د دښمن په خوله تش ر د آسمان جوړ شو
چه پاکستان جوړ شو

شان و شوکت دی زموږ
جاه و حشمت دی زموږ
د قربانۍ په ډېرو وینو دا سکان جوړ شو
چه پاکستان جوړ شو

داد ړې مه کوه
هسې دپکې سه کوه
زړهٔ د خولاړو نه د هر یو مسلمان جوړ شو
چه پاکستان جوړ شو

غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زموږ یو ځان جوړ شو
چه پاکستان جوړ شو

مونږ د ټپل کور کړو فکر
هم د ټپل ورور کړو نکړ
فکر سودا دے چه کشمیر کښې هندوستان برړ شو
چه پاکستان جوړ شو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ښاغلي په شان ووړ اوړل
حيران پريشان دو اوړل
او دوه ښاغلي اوس د درياب ترې بې پايان جوړ شو
چه پاکستان جوړ شو

هر امتحان سته ولاړ
د عزم په شان سته ولاړ
داڼي خاطر چه کاک په شانې د سندان جوړ شو
چه پاکستان جوړ شو

ستا د هلال ستوري سدام اختر دي زموږ
د ستا مثال ستوري ښکاري نظر دي زموږ
د ستا د اقبال ستوري سرا و بصر دي زموږ

تل ځلېږي په تا چې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# يو څو مصرعے کشمير ته

دپا په دينو به ئے سره کړم
په داورد سپين دا ز کشمير دغرو سرو ته

چه د کشمير په سر کينے لا ړشی
زه به ئے تا ل په مزار بل کړم مشالونه

سر د کشمير د غرۀ ږير لوړ دے
د دښمنه سه بز ده په تندی درته لاسونه

سر د کشمير د سر زما دے
چه د کشمير را نه دننه کړی ديدنونه

کشمير زما د زړګی سر دے
د دۀ په ياد د زما زړۀ کوی دردونه

زه يم باد شاه کشمير ے تاج دے
تل د شاهانو په سرو نوری تاجونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# سترګې

(مصرعې)

سترګو پخوا لیده لیده یاره
پکښې غوړېږي لاتر اوسه دید لږ منه

په زړګي ستا زړه بندې پوهېږي
په دغه رازې شه خبر د خلقو زړونه

سترګې ستا سترګې لیده لې
ځکه د نورو سترګو نه کړي دید نو نه

سترګې رندې شه چه رندې شي
چه دوسره خاتر کښې دستا په نوري ځینه

سترګې به ستا د سترګو وا وړي
خوچه را دا وړي برد خاور وخر بادونه

کله چې پوښنې د زړه له سوزه
نو لبس د ځېل سنګارنه وکړه تپوسونه

زما په سترګو جوړ نور تم دې
ستا د رخسار به کله راغي مشالونه

دربېعه چه زړه مې تالیدې شوې
بیا به دې نکړه ماته راسې پېغورونه

سترګې مې هر باد نه نیوې
وایم که خاورې پکښې ستا د کوڅې وینه

زما په سترګو کښې خنده وشي
ګل ررقیب چه دي په خنګ کښې اوینه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ضمیمه

چه خندنې کوې په ما پورې ÷ خلق به وخاندي په تا پورې
چه ما خفه کړې او رقیب خوشوې ÷ پناه به وړ ریږم په چا پورې

---

هر صبا وایم چه صبا به راشي ÷ اشنا به راشي په رښتیا به راشي
پټه مې ګرځېږې مه کړه غم خاطره ÷ که ځنې چل وي هم په تا به راشي

---

نشته پروا چه او ښکې مې دوري ÷ پرېږده چه مې شا مدام ګوري
زه چه تخمونه د ګلانو کرم ÷ د معشوقې د بلبلانو لپاره
سپینه زمنه ستا د انګور دانه ده ÷ چارنې چه ږیرې دي سپیار ولاړې

---

چه اشنا مې خوش خندان وي خیر دې خیر دې ÷ له په ما باندې خندان وي خیر دې خیر دې
خاطره تاخوږې چه شیخ یمه زه ÷ په کته کښې مات ښکري د چا پرانه دی
بنه شوه چه خندا وشوه ستا د غلیو ستر ګو نه
ښکلې ابتدا وشوه ستا د غلیو ستر ګو نه

---

چه په کاکل دې راته وخندل ÷ زما په زړه باندې ښځې تیرې شوې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)